# افغانستان

## په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

## شپږ میاشتنی راپور: ۱ جنوري – ۳۰ جون ۲۰۲۰



یوناما

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما)

جولایی ۲۰۲۰

# د مطالبو لړلیک

**لومړی. عمومي کتنه** ........................................ ۳
**دویم. د کوچني اختر اوربند (۲۴ – ۲۶ می ۲۰۲۰)** ........................................ ۶
**دریم. د دولت ضد عناصر** ........................................ ۷
**څلورم. دولت پلوه ځواکونه** ........................................ ۱۳
**پنځم. د کوویډ-۱۹ وبا پر مهال پیښې کومې چې د روغتیایي پاملرنې تاسیسات اغیزمنوي** ........................................ ۱۷
**شپږم.  د ماشومانو استخدام او کارونه** ........................................ ۱۸
**اووم.   په قربانیانو او د هغوی د کورنۍ پر غړو د وسله والې شخړې اغیز** ........................................ ۲۰
***الف.  د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو څخه د برخمن کیدو په اړه د وسله والې نښتې اغیز*** ........................................ ۲۰
***ب.      د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا هڅې تر څو اوښتي زیان ته رسیدګي وکړي*** ........................................ ۲۳
**اتم.  میتودولوژي** ........................................ ۲۵
**نهم. پالیسي‌کونه** ........................................ ۲۵

## لومړی. عمومي کتنه

د ۲۰۲۰ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما ۳۴۵۸ ملکي تلفات (۱۲۸۲ مړه او ۲۱۷۶ ټپیان) مستند کړي. د متحده ایالاتو – طالبانو د فبرورۍ د ۲۹نېټې تړون له لاسلیک کولو مخکې اونۍ او د طالبانو او افغان دولت له خوا د اختر په شپو ورځو کې د اعلان شوي اوربند په ګډون په تاوتریخوالي کې د کمښت د مودو سره سره تاوتریخوالي دوام درلود چې ملکي وګړو د جګړې اغیز او زیان ګاله. د تېر کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو عمومي شمېر ۱۳ سلنه کموالي،[۱] او د ۲۰۱۲ کال راهیسې تر ټولو ټیټ شمیر وراندې کوي.

یوناما په ملکي تلفاتو کې د کموالي هرکلی کوي، خو د دې یادونه کوي چې دغه کموالي نړیوالو نظامي ځواکونو او دغه راز د عراق او شام اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې د کموالي له امله رامنځ ته شوی؛ یوناما لا اوس هم طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د ملکي تلفاتو د منسوب شویو اندېښمن کوونکو رجحاناتو مستند کول جاري ساتلي. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره یوه تر ټولو غوره لار د مذاکره شوي سیاسي حل لارې د لارې د جګړې پای ته رسول دي.

### ټول ملکي تلفات

د جنورۍ له ۱ تر ۳۰ جون ۲۰۰۹- ۲۰۲۰




پایېدونکی واقعیت دی چې د افغانستان جګړه لا اوس هم د ولسي وګړو لپاره یوه تر ټولو خونړۍ هغه ګڼل کیږي. په افغانستان کې هر کل په زرګونو ملکي وګړي د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري وژل کیږي، ټپي کیږي، تښتول کیږي، ښځایه کیږي او ګواښل کیږي؛ د مرګ ژوبلې پر هېښوونکو کچو سربېره، ماشومانو د جګړې د ښکیلو خواوو له لوري استخدام شوي، کارول شوي او له جنسي تاوتریخوالي سره مخ شوي؛ او ښځې د هغوي ساتنې او خوندیتوب ته مواجه له داسې څو اړخیزو ګواښونو سره مخ دي د جګړې د مستقیمې او غیر مستقیمې اغېزې څخه راټوکیږي.

**د هغو افرادو او ټولنو تجربې، حقونه او اړتیاوې باید په رسمیت وپېژندل شي او رسیدګي ورته وشي ځوک چې له تکراري تاوتریخوالی سره مخ شوي.**

ډېری دغه قربانیان د جګړې د پای ته رسیدو وروسته د اوږد مهاله معلولیتونو، رواني ترماء، مالي زیان، بې وزلۍ او د خپل راتلونکي په اړه د بې باورۍ له امله د اوږدې مودې لپاره کړیږي. د کوویډ-۱۹ وبا په سخت ډول د قربانیانو دا وړتیا راکمه کړې چې د وسله والې جګړې له اغیز څخه ورغیږي، او همدارنګه په لا پراخه کچه یې د نورو ګواښونو په وړاندې د ملکي خلکو زیانمنتوب زیات کړی.

### د پېښو د نوعیت له مخې ملکي تلفات

جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې ۲۰۲۰




د احتساب منګولو ته د مرتکبینو پر سپارلو سربېره، د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د جګړې د ښکیلو خواوو د هڅو د یوې برخې په څیر، د هغو افرادو او ټولنو تجربې، حقونه او اړتیاوې باید په رسمیت وپېژندل شي او رسیدګي ورته وشي څوک چې له تکراري تاوتریخوالي سره مخ شوي. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره یوه تر ټولو غوره لار د مذاکره شوي سیاسي حل لارې د جګړې پای ته رسول دي. د هر څه په سر کې د ملکي وګړو د خوندیتوب او سلامتیا په ځای کولو سره، افغان دولت او طالب د سولې خبرو اترو لپاره د یوه مساعد چاپېریال په غښتلي کولو کې مرسته کولی شي او د جګړې لپاره یو پایېدونکی حل ډاډمن کولی شي.

په ملکي تلفاتو کې دغه عمومي کموالی د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوايي بریدونو او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت د راکم شویو فعالیتونو، په ځانګړي ډول د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کمې کارونې په پایله کې په ملکي تلفاتو کې د کموالی له امله رامنځ ته شوی. د طالبانو د فعالیتونو په پایله کې رامنځ ته کیدونکي ملکي تلفاتو په لوړو کچو دوام درلود، چې یوناما د تیر کال[2] د ورته مودې په پرتله د روان کال په لومړۍ نیمه یې کې د لاس جوړ پرسونل ضد ماینونو له امله یو اندېښمن کوونکی زیاتوالی مستند کوي. افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات ۹ سلنه لوړ شوي، چې زیاتره یې د هوایي بریدونو او د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې په پایله کې رامنځ ته شوي. د لومړۍ

ربع له جریانونو سره سم، دولت ضد عناصرو د زیاترو ملکي تلفاتو اړول جاري ساتلي، په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونو د دولت ضد عناصرو په پرتله د ماشومانو د زیاتې مړینې لامل پاتې شوي.

په جګړه کې د ښکېلو ډلو لخوا د وخت په اساس ملکي تلفات

جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې ۲۰۲۰




ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کیږي چې د عمومي مجموعې ۳۵ سلنه وړاندې کوي (۱۱۹۵ ملکي تلفات: ۳۳۶ مړه او ۸۵۹ ټپیان). د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو له دوو پر درې برخه د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوې، په تېره بیا په ګڼ میشتو ملکي سیمو کې. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو (انتحاري او غیر انتحاري) کارونه د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل و. هغه بریدونه چې د "هدفي وژنو"[۳] په څیر ډلبندي شوي او په کومو کې چې د زیاتو ډزو پېښې شاملې دي، د ملکي مړینې مخکښ لامل ګڼل کیده.

د بلخ او کابل په ولایتونو کې میشت ملکي وګړي تر ټولو زیات له جګړې څخه اغیزمن شوي (په هر ولایت کې په تر تیب ۳۴۴ او ۳۳۸ ملکي تلفات)، چې په تعقیب یې په ننګرهار (۲۸۱ ملکي تلفات)، فاریاب (۲۳۳ ملکي تلفات) او کندز (۲۰۵ ملکي تلفات) میشت ملکیان تر ټولو زیات اغیزمن شوي.[٤]

یوناما پر ښځو او ماشومانو د جګړې د زیانمنوونکي اغیز په اړه اندېښمنه ده، څوک چې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۰ سلنه برخه جوړوي. وسله واله جګړه د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښځو ۳۹۷ تلفات (۱۳۸ مړې او ۲۵۹ ټپیانې) اړولي، چې د ټولو ملکي تلفاتو ۱۱ سلنه جوړوي. ځمکنۍ نښتې د ښځو د تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کیده، چې په تعقیب یې هدفي وژنې، هوایي بریدونه او تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ښځو د تلفاتو مخکښ لاملونه شمیرل کیږي. د یوناما له خوا د ماشومانو د ۱۰۶۷ تلفاتو (۳۴۰ مړه او ۷۲۷ ټپیان) په مستند کولو سره چې د ټولو ملکي تلفاتو ۳۱ سلنه وړاندې کوي، په افغانستان کې جګړه د ماشومانو لپاره یوه تر ټولو خطرناکو جګړو شمیرل کیږي. ځمکنۍ نښتې او په تعقیب یې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي او له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي مواد د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لاملونه وو.

## دویم. د کوچني اختر اوربند (۲۴ – ۲۶ می ۲۰۲۰)

د می د ۲۳ نېټې پر ماښام طالبانو د کوچني اختر په شپو ورځو کې د جګړې د درلو یو درې ورځنی یو اړخیز اوربند اعلان کړ.[5] تر دغه اعلان شیبه وروسته، ولسمشر غني د دغه اعلان شوي اوربند هرکلی وکړ او یو پله بیا یې د "سولې وړاندیز" وکړ، چې دا یې په ډاګه کوله چې هغه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د دریو ورځو لپاره د جګړې د درلو امر کړی.[6] دواړو خواوو په ډاګه کړه چې دوی د دفاعي کړنو او بریدونو اجازه ورکوي.[7]

د اختر د اوربند پر مهال د یوناما د ملکي تلفاتو څارنه او مستندونه په ډاګه کوي چې په واقعیت کې د جګړې ښکیلې خواوې پر ولسي وګړو له مثبتې اغېزې سره د جګړې د راکمولو وړتیا لري، خو که چیرې د دغه کار لپاره سیاسي اراده موجوده وي. د اختر په دریو ورځو (۲۴ – ۲۶ می) کې یوناما ۴۹ ملکي تلفات (۲۷ مړه او ۲۲ ټپیان)[8] مستند کړي کوم چې د ۲۰۲۰ کال د می میاشتې د درې ورځنۍ مودې د اوسط په پرتله ۴۵ سلنه کم وو. خو له دې سره سره، د دغو تلفاتو له جملې یوازې ۲۱ ملکي تلفات (۱۵ مړه او شپږ ټپیان) په ښکاره توګه یا خو طالبانو (۱۸)، افغان ملي امنیتي ځواکونو (۱)، یا د ډزو تبادلې ته منسوب شوي او پاتې نور هغه یې دولت پلوه وسله والو ډلو، نا معلومو دولت ضد عناصر یا د نا معلومو لور له جګړې څخه پاتې شونو چاودیدونکو توکو ته منسوب شوي. د اختر د اوربند پر مهال طالبانو ته له منسوب شویو ۱۸ ملکي تلفاتو څخه پنځه ملکي تلفات (څلور مړه او یو ټپي) د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماین د چاودنې په پایله کې رامنځ ته شوي، کوم چې ښايي تر اوربند مخکې ځای پر ځای شوی وي، او شپږ ملکي تلفات (پنځه مړه او یو ټپي) د طالبانو د یوه غړي په کور کې د چاودیدونکو توکو د چاودنې په پایله کې رامنځ ته شوي، د کوم له امله چې د هغه د خپلې کورنۍ غړي زیانمن شوي.

**د اختر پر مهال د یوناما د ملکي تلفاتو څارنه او مستندونه په ډاګه کوي چې په واقعیت کې د جګړې ښکیلې خواوې پر ولسي وګړو له مثبتې اغېزې سره د جګړې د راکمولو وړتیا لري، خو که چیرې د دغه کار لپاره سیاسي اراده موجوده وي.**

همدارنګه د اوربند او په فبروري میاشت کې د تاوتریخوالي د کمښت د مودې پر مهال له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په پایله کې رامنځ ته شوی ملکي زیان د جګړې ښکیلو خواوو دا بیړنۍ اړتیا په ډاګه کوي چې د بشردوستانه ماین پاکۍ لپاره چارې تسهیل کړي. په عام ډول د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې، یوناما د جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله ۲۱۸ ملکي تلفات (۵۹ مړه او ۱۵۹ ټپیان) تایید کړي، چې له ۸۰ سلنې زیات هغه یې ماشومان وو. د تاوتریخوالي د راکمونې یا پای ته رسونې مودو په ګډون، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو له امله د رامنځ ته شوي زیان کمول په تیره بیا هغه چې ماشومانو ته مخ دی، د دواړو افغان دولت او طالبانو په ګټه دی، او دغه کار باید یو لومړیتوب وګڼل شي.

## درېیم. د دولت ضد عناصر

دولت ضد عناصر د اکثریت ملکي تلفاتو مسؤلیت په غاړه لري، ۵۸ سلنه د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ شپږو میاشتو کې، چې ۱۹۸۹ ملکي تلفات (۷۵۲ مړه او ۱۲۳۷ ټپیان) یې اړولي. یوناما د ملکي تلفاتو ۴۳ سلنه طالبانو،[9] نهه سلنه د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې[10] او شپږ سلنه نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.[11]

یوناما د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې طالبانو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو نږدې هغه شمېر ته ورته شمېر مستند کړی کوم چې د ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې دوي ته منسوب شوی و.[12] خو له دې سره سره یوناما په ملکي مړینو کې ۳۳ سلنه زیاتوالی مستند کړی، کوم چې د اندېښنې وړ ګڼل کېږي. د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د غیر انتحاري بریدونو، هدفي وژنو او هغو تښتونو چې د صحرایي وژنو لامل کېږي، له امله په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی له دغه جریان مرسته کړې.




د ۲۰۲۰ د لومړۍ نیمایي میاشتو په اوږدو کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ملکي وګړو ته زیان اړول، په ځانګړې ډول پر ملکي وګړو د عمدي بریدونو په پایله کې، جاري ساتلي. یوناما د تیر کال په پرتله د روان کال په لومړۍ نیمایي میاشتو کې نوموړې ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې ۳۳ سلنه کموالی مستند کړی، چې تر ډېره د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو د لویو تلفاتو لرونکو بریدونو کې د کموالی له امله رامنځ ته شوی.[13] د ۲۰۱۹ کال په ورته موده کې د ثبت شویو ۹۷ پېښو په پرتله، یوناما د روان کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوې ۱۷ پېښې ثبتې کړې چې ملکي تلفات یې پېښ کړي. خو له دې سره سره د یادونې وړ ده چې نوموړې ډلې ته د منسوب شویو ملکي

تلفاتو ۸۵ سلنه له ۲۹۹ څخه ۲۵۵ ملکي تلفات په دریو پیښو کې رامنځ ته شوي: د کال په لومړۍ ربع[۱۴] کې دوه د پراخو ډزو درلودونکې پېښې او د کال په دویمه ربع کې په ننګرهار ولایت کې د یوې جنازې په مراسمو کې ځانمرګی برید.[۱۵]

د دولت ضد عناصرو له خوا د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمايي کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و، چې له امله یې ۶۸۸ ملکي تلفات (۲۱۷ مړه او ۴۷۱ ټپیان) رامنځ ته شوي.[۱۶] د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ټولو تلفاتو نږدې نیمه هغه – ۴۵ سلنه – د طالبانو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو کوم چې د پرسونل ضد ماینونو په څیر کار کوي، د پراخې کارونې له امله رامنځ ته شوي.[۱۷] د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمايي یې کې د قرباني په واسطه د دغو فعالیدونکو وسیلو له امله ملکي تلفات د ۲۰۱۹ کال د ورته مودې په پرتله ۵۰ سلنه لوړ شوي، چې د تیرو دوو کلونو پرمهال د پام وړ کموالو بهیر بیرته پر شا تمبوي. یوناما دغه راز د دې یادونه کوي چې د اختر تر درې ورځنې اوربند یوه اونۍ وروسته فشاري ماینونه د ملکي تلفاتو مخکښ لامل ته پورته شول.




ماشومان د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو له یو پر درېیو زیاته برخه جوړوي؛ یوناما په دوامدار او ثابت ډول داسې پېښې ثبت کړې په کومو کې چې دغه وسیلې مازې د یوه ماشوم د وزن په اندازه چاودیدلې، چې دغه کار د تعبیه شویو پرسونل ضد ماینونو په څیر د هغوی ماهیت په ډاګه کوي. د مثال په ډول د مۍ پر ۲۳ نېټه د بادغیس ولایت په مقر ولسوالۍ کې، درې هلکان (۵-۱۲ کلن) هغه مهال ووژل شول کله چې پر هغوی د طالبانو له خوا د افغان سیمه ییزو پولیسو یوې پوستې ته څېرمه ځای پر ځای شوي فشاري ماین چاودنه وکړه. دوی دغه مهال خپل پسونه پیول. په ورته ډول د جون پر ۸ نېټه د فاریاب ولایت په ګرزیوان ولسوالۍ کې، پر اوو هلکانو (۹-۱۵ کلن) چې له خپل خر سره د افغان ملي اردو پوستې ته څېرمه پلې روان وو هغه مهال فشاري ماین وچاودید کله چې خاروي پر ماین وخوت. په دغې پیښه کې ټول اووه هلکان ټپیان شول او خاروی یې ووژل شو.

*"زه په خپل دوکان کې وم کله مې چې واوریدل چې زما درې ماشومان په یوه چاودنه کې ټپي شوي... کله مې چې هغوي په خپلو وینو کې لت پت ولیدل، زه یې تاسو ته په خوله نه شم ویلای چې زه څومره وارخطا ودریدم. ما داسې فکر کاوه چې نه اسمان او نه هم ځمکه ځای راکوي. زما یوه ماشوم په ژامه کې چره خوړلې وه چې ژامه یې ور ماته کړې وه او غاښونه یې لویدلي وو. موږ باید هغه ته هره ورځ په قاشوغې سره خواړه ورکړو... زما ماشومان زما د کور مخ ته ټپي کیږي، نو څرنګه ویلای شم چې امنیت شته دی؟ موږ هیڅ امنیت نه لرو."*

- هغه پلار چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ پر ۲۸ نېټه یې د پکتیا ولایت په ګردیز ښار کې د طالبانو له خوا د ځای پر ځای فشاري ماین د چاودنې له امله یوه لور ووژل شوه او دوه زامن یې ټپیان شول.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو کارونه کوم چې به افغانستان کې د تعبیه شویو پرسونل ضد ماینونو په څیر کار کوي، په ماهوي لحاظ بې توپیره دي او له همدې امله هر وخت ناقانونه ګڼل کیږي. یوناما یو ځل بیا پر طالبانو غږ کوي چې د دغو وسیلو کارونه زر تر زره ودروي او خپلې هغه پخوانۍ ژمنې عملي کړي چې د دغو وسیلو د بندولو لپاره یې ترسره کړې.[18]

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په عمدي ډول د ملکي وګړو د عمدي هدف ګرځولو او دغه راز د ګواښونو، تهدیدونو او ځورونې د قضیو په اړه اندېښمنه ده. د جنوري له ۱ نېټې څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما د هغو بریدونو په پایله کې په کومو کې چې ملکي وګړي د دولت ضد عناصرو لخوا په عمدي ډول په نښه شوي ۷۷۰ ملکي تلفات (۳۴۲ مړه او ۴۲۸ ټپیان) مستند کړي، چې له نیمه یې زیات هغه یې طالبانو ته منسوب شوي.[19] د دغو عمدي بریدونو له امله مارچ او مۍ میاشتو د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمیر درلود. د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه کې د دولت ضد عناصرو لخوا د عمدي هدف ګرځولو په پېښو کې پر دیني مشرانو (۱۸ پېښې)، روغتیایي کارمندانو (۱۳ پېښې)، د قضایي قوی پر غړو (۱۱ پېښې)، د مدني ټولنې پر فعالانو (نهه پېښې)، غیر دولتی ادارو (اته پېښې) او ژورنالستانو (درې پېښې) بریدونه شامل دي. یوناما دغه راز د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا پر سیکانو او شیعه مذهبه مسلمانانو چې زیاتره یې هزاره توکم دي، د بریدونو مستند کول جاري ساتلي.

**په قصدي ډول د ملکي وګړو او ملکي شیانو په نښه کول بشر دوستانه قانون په صراحت سره منع کړي او کیدای شي چې جنګي جنایت وګڼل شي.**

**د ۲۰۲۰ کال د جون پر ۲۶ نېټه د طالبانو له خوا په فاریاب ولایت کې په عام محضر کې د دوه سړیو اعدامونه**

د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمایي کې، یوناما د طالبانو له خوا د موازي عدلي جوړښتونو د پریکړو د عملي کولو په پلمه د ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډکو سزاګانو لاس پورې کولو پنځه پېښې مستند کړې، په تېره بیا د دوي تر ولکې لاندې سیمو کې چیرې چې خلک رسمي عدلي میکانیزمونو ته خورا محدود لاس رسی لري. د طالبانو له خوا په ترسره شویو سزاګانو کې وهل ټکول، د غړو پرې کول او دغه راز د "اخلاقي تخطي ګانو" په څېر د ادعا شویو جرمونو لپاره اعدامونه شامل دي.

د فاریاب ولایت په قیصار او پشتون کوټ ولسوالیو کې د جون د ۲۶ نېټې پر سهار په عام محضر کې د دوه ملکي نارینه وو اعدامونې د ځانګړې اندېښنې وړ دي. دواړه نارینه چې عمرونه یې شا و خوا ۳۵ کاله وو، د ماشومانو په ګډون د سلګونو خلکو په مخکې له ګڼ ګوڼې په ډکو ځایي بازارونو کې اعدام شول. دوي په داسې حال کې حاضر کړل شول چې سترګې، لاسونه او پښې یې تړل شوې وې او د طالبانو د محکمې پریکړه د یوه طالب له خوا په لوډ سپیکر کې په لوړ غږ ولوستل شوه. په قیصار ولسوالۍ کې اعدام شوی سړی یو کال پخوا د یوه ماشوم د تښتونې په تور نیول شوی و؛ او پشتون کوټ ولسوالۍ کې اعدام شوی سړی دوه میاشتې پخوا د تښتونې، وسله والي غلا او قتل په تور نیول شوی و. خلکو ته د هغوي د مرګ سزا تر اورولو سملاسي وروسته دواړه نارینه پر دار وځړول شول او جسدونه یې لږ تر لږه د ۲۰ دقیقو لپاره راغونډو شویو خلکو ته وښودل شول. یو بل دریم سړی څوک چې نیول شوی او د ورته جرمونو په تړاو د مرګ په سزا محکوم شوی او داسې باور کیږي چې د طالبانو غړی دی، د طالبانو په نظارت کې پاتې دی.

په داسې حال کې چې یوناما د طالبانو له خوا د کلونو په اوږدو کې یو شمیر اعدامونه تایید کړي، د هغو په ګډون چې د نورو خلکو په شتون کې ترسره شوي، د خلکو په مخ کې د نمایشي موخو لپاره علني اعدامونه خورا نادر دي. د یوناما له خوا دغه ډول وروستۍ پیښې د ۲۰۱۹ کال په جون کې په فراه ولایت کې مستنده شوې وه، په کومه کې چې یو ملا د طالبانو د لسګونو خلکو په مخ کې د هغه د قتل قضیې په اړه تر پریکړې وروسته په ډزو ووژل شو. د جون پر ۲۶ نېټه په فاریاب کې تر اعدام مخ کې، یوناما د اعدام یوازې یوه قضیه تایید کړې.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د دولت ضد عناصرو له خوا جاري شوې سزاګانې د افغانستان تر قوانینو لاندې جرمي کړنې ګڼل کیږي او د بشري حقونو سرغړوني تشکیلوي سربیره پر دې، د دولت ضد عناصرو له خوا د اعدام په څېر سختې سزاګانې کولی شي د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې تشکیل او جنګي جرمونه وشمېرل شي.[20] یوناما له دولت ضد عناصرو څخه غوښتنه کوي چې پر افرادو ژر تر ژره د ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک چلند یا سزاګانو تحمیلول پای ته ورسوي.علني اعدامونه په ځانګړې ډول غیر انساني دي او په مرګ سزا د محکومو افرادو[21] او دغه راز د هغو کسانو چې د سزا د تطبیق د صحنې شاهدان وي په تېره بیا ماشومان، رواني ټروما زیاتوي.[22]

یوناما له طالبانو غوښتنه کوي چې زر تر زره پر افرادو د ظالمانه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا تحمیلول پای ته ورسوي. یوناما یو ځل بیا د ملګرو ملتونو د عمومي منشي د هغه دریځ یادونه کوي، څوک چې "په قاطع ډول د غیر انساني، ظالمانه او له سپکاوی ډک د علني اعدامونو خلاف دی."[23] په عامه محضرونو کې د علني اعدامونو ترسره کول په تیره بیا د ماشومانو په مخ کې، باید سملاسي ودرول شي.

د ملکي وګړو د عمدي هدف ګرځونې د یو شمیر پېښو مسووله خوا او انفرادي مرتکبین نامعلوم پاتې دي. په دغو پېښو کې په کابل کې د بې پولې ډاکټرانو له خوا د اداره کیدونکي روغتون د زیږنتون پر څانګه د نا معلومو وسله والو د مۍ د ۱۲ برید؛ د جون پر ۲۲ نېټه پر یوه موټر پر موټر سایکل د دوو سپرو وسله والو ډزې چې له امله یې په موټر کې د یوه څارنوال په ګډون چې د بګرام په توقیف ځای کې کار کاوه، ټوله پنځه نفره سپرلۍ ووژل شوه؛ او همدارنګه د هیواد په پلازمینه کې د جون پر ۲۷ د

افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون پر یوه موټر برید شامل دی، په کوم کې چې د کمیسیون یو کارمند او یو موټر چلوونکی ووژل شول (لاندې برخه وګورئ). یوناما افغان دولت د دغو پېښو په اړه د خپلو څېړنو بشپړولو، د موندنو خپرولو، د مرتکبینو احتساب ته راکښلو او د داسې ګامونو پورته کولو ته هڅوي څو ډاډمن کړي چې د قربانیانو او د هغوي د کورنیو لپاره مناسبې مرستې برابرې شوي.

یوناما د هغو تښتونو په ګډون چې پر ناوړه چلند او صحرايي اعدامونو تمامې شوي، د طالبانو له خوا د ملکي وګړو په تښتونو کې د اندېښمنوونکي زیاتوالي مستند کول جاري ساتل. د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، یوناما د ملکي وګړو د تښتونو ۲۸ پېښې تایید کړي کومې چې د ۶۸ ملکي تلفاتو (۴۰ مړه او ۲۸ ټپیان) لامل شوي، او کومې چې د ۲۰۱۹ کال د لومړیو شپږو میاشتو په پرتله د دغو ډول پېښو په پایله کې په رامنځ ته شویو تلفاتو کې پنځه برابره زیاتوالی وړاندې کوي.

د مثال په ډول، د اپریل پر ۹ نېټه د هرات ولایت د کوشان ولسوالۍ د هرات – اسلام قلعه پر لویه لار، درېو وسله والو طالب جنګیالیو یو شخصي موټر چې د هرات ښار پر لور روان و ودراوه. طالب جنګیالیو د موټر پنځه واړه نارینه سپرلۍ چې د افغانستان بانک (د افغانستان مرکزي بانک) کارمندان وو، وتښتول او له ځان سره یې بلې سیمې ته یوړه او هلته یې څو ساعته وروسته ووژله. د سرچینو له معلوماتو سره سم، یوه کارمند ته د طالبانو له خوا پخوا ګواښونه شوي و چې خپله دنده پرېږدي او دغه پیغام خپلو نورو همکارانو ته هم ورسوي.



**د ۲۰۲۰ کال د جون پر ۲۷ نېټه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون پر موټر د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو برید د دغه کمیسیون دوه غړي ووژل**

په کابل ښار کې د جون ۲۷ نېټې په سهار یو ریموټي بم د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون پر موټر چاودنه وکړه او د دغه کمیسیون دوه کارمندان یې ټپیان کړل: فاطمه "نتاشه" خلیل، له ډونرانو سره د کمیسیون د اړیکو آفسره او جاوید فولاد، د کمیسیون د اوړدې مودې کارمند او موټر چلوونکی. دواړه ټپي کارمندان روغتون ته ولیږدول شوه او لنډه موده وروسته یې د خپلو ټپونو له امله ساه ورکړه.

دغه موټر یو له هغو نقلیه وسیلو څخه وو چې کمیسیون د خپلو کارمندانو د ترانسپورټ لپاره کاراوه او دولتي نمبر پلیټ یې درلود. د دغه راپور د لیکنې پر مهال، په افغانستان کې څېړونکې اداره د دې ور نه وي چې د برید تر شا مسوول لوری یا ډله تایید کړي او نه هم ځانګړي دخیل افراد؛ دغه راز دا لا تر اوسه نا معلوم دي چې آیا کمیسیون د بشري حقونو په برخه کې د خپل کار له امله په مشخص ډول په نښه شوی و. د جون د ۲۷ نېټې پر شپه، د طالبانو ویاند د ټویټر له لارې د دغې پیښې مسوولیت رد او وژنې یې وغندل ل.[۲۴]

د نوموړي کمیسیون کارمندان پخوا هم د دولت ضد عناصرو له خوا په افغانستان کې په نښه شوي. د ۲۰۱۹ کال د سپتمبر پر ۳ نېټه، عبد الصمد امیري، په غور ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د ولایتي اداري سرپرست د میدان وردګو ولایت په جلریز ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا وتښتول شو او تر دوو ورځو اختطاف وروسته ووژل شو. د یوناما له معلوماتو سره سم، ښاغلي امیري څلور ځلې پر شا په مرمیو ویشتل شوی و. د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوی او سمع شکایتو کمیسیون دغه پیښه څېړلې؛ د څېړنې پایلې نه له خلکو او نه هم یوناما یا د بشري حقونو له کمیسیون سره شریکې کړای شوي.

د ۲۰۱۵ کال د اکتوبر پر ۲۶ نېټه، د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د سړک د غاړې ریموټي بم د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کارمندانو د عملیې پر موټر چاودنه وکړه، چې له امله یې دوه کارمندان ووژل شول او شپږ نور ټپیان شول. هیڅ کوم لوري د دغه برید مسوولیت پر غاړه وانخیست.[۲۵]

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د بشري حقونو یوه ملي خپلواکه اداره ده چې د بشري حقونو د ملي ادارو د نړیوال ایتلاف تر ټولو لوړ باور څخه برخمنه ده. د دغې اداري ماموریت د بې طرفه حقیقت موندنې، مدافعې او نورو فعالیتونو له لارې په افغانستان کې د ټولو افرادو د بشري حقونو ساتنه او هغوی ته وده ورکول دي. د بشري حقونو د مدافعینو په څېر، د نوموړي کمیسیون کارمندان باید له بریدونو خوندي او د دې جوګه کړای شي چې خپلې دندې له کومې ویرې او ګواښ پرته پرمخ یوسي. یوناما افغان دولت باندې د خپلو څېړنو بشپړولو، د موندنو خپرولو، د مرتکبینو احتساب ته راکښلو د پاره غږ کوي چې د آغلې خلیل او ښاغلي فولاد کورنیو ته مناسبې مرستې برابرې شوي.

د مې پر ۳۰ نېټه د بدخشان ولایت په وردوج ولسوالۍ کې وسله وال طالبان هستوګنیزو کورونو ته ننوتل، ۱۳ ملکي وګړي (د یوې ښځې په ګډون) یې ووهل، هغوي یې وتښتول او په کلي کې یې د طالبانو یوه بیس ته یوړل. د ښځې په ګډون شپږ تښتول شوي کسان د قومي مشرانو تر منځګړیتوب وروسته په بله ورځ خوشې کړای شول؛ او پاتې اووه نارینه د طالبانو له خوا بل کلي ته ولیږدول شول. د یوناما له معلوماتو سره سم، طالبانو تښتول شوي کسان سخت وهلي ډبولي او یوه هغه ته یې بریښنایي شاکونه ورکړي. بل شخص د جون پر ۳ نېټه خوشې کړای شو، خو پاتې تښتول شوي کسان د جون تر ۲۶ نېټې پورې خوشې نه شول . د راپورونو له مخې طالبانو دغه تښتونې او وهل ډبول له افغان ملي اردو سره د ادعا شوې مرستې لپاره د ملکیانو په ضد د سزا په توګه ترسره کړي.

یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د ملکي وګړو یا ملکي شیانو عمدي په نښه کول منع دي؛ د جګړې د هر لوري له خوا د هغو کسانو وژل چې په دوښمنیو کې فعاله ونډه نه اخلي د جنیوا کنوانسیونونو د دریمې مشترکې مادې له مخې په صریح ډول هر وخت او هر ځای منع دي او ښايي جنګي جرمونه تشکیل کړي.

یوناما د طالبانو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او شکایتونو کمیسیون هڅوي ترڅو د ملکي تلفاتو پېښو په اړه خپلو تحقیقاتو ته دوام ورکړي او له طالبانو څخه غواړي چې خپلې موندنې له یوناما او خلکو سره شریک کړي.

## څلورم. دولت پلوه ځواکونه

دولت پلوه ځواکونه  د کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۸ سلنې مسوول وو، چې ۹۸۲ ملکي تلفات (۳۹۲ مړه او ۵۹۰ ټپیان) یې اړولي. تر لومړۍ ربع را وروسته د ملاحظه شوی اندېښمنوونکې جریان په دوام، دولت پلوه ځواکونه د دولت ضد عناصرو په پرتله د ماشومانو د زیاتې مړینې مسوول دي.[۲۶]  یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۲۳ سلنه افغان ملي امنیتي ځواکونو،[۲۷] درې سلنه نړیوالو نظامي ځواکونو[۲۸] او پاتې نور هغه یې دولت پلوه وسله والو ډلو[۲۹] او ګڼو نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.[۳۰]

د کال د لومړۍ شپږ میاشتو په مهال د فعالو جګړو څخه نړیوالو نظامي ځواکونو ته د ملکي تلفاتو وروستۍ منسوب شوې پېښه د فبروري پر ۱۷ نېټه په هرات ولایت کې د هوايي برید په پایله کې رامنځ ته شوې.[۳۱]

د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمايي کې، یوناما د ۲۰۱۹ کال د لومړۍ نیمايي په پرتله افغان ملي امنیتي ځواکونو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې نهه سلنه زیاتوالی مستند کړی، چې زیاتره یې د هوايي بریدونو او د ځمکنۍ نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې په پایله کې په ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي له امله رامنځ ته شوي. [۳۲]

د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمايي کې ځمکنۍ نښتې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و، چې ۵۴۶ ملکي تلفات (۱۵۷ مړه او ۳۸۹ ټپیان) یې اړولي.[۳۳] د دغو تلفاتو له ۸۰ سلنې زیات هغه یې د غیر مستقیمو وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوي، چې زیاتره یې په ملکي میشتو سیمو کې کارول شوي.[۳۴] یوناما په مکرر ډول په تیره بیا په ګڼ میشتو سیمو کې د دغه ډول وسلو د بې توپیره اغیزو او د هغوي په پایله کې ملکي وګړو ته د مواجه زیان په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړې. د مثال په ډول، د مې پر ۲۳ نېټه د لغمان ولایت په الیشنګ ولسوالۍ کې، د افغان ملي اردو له خوا د طالبانو د برید په غبرګون کې د توپ یوه ګولۍ ګذار کړه چې پر یوه هستوګنیز ځای ولګیده او څلور ماشومان (۸-۲ کلنې درې نجونې او یو ۱۵ کلن هلک) یې ووژل او ۱۲ نور ملکیان (شپږ ماشومان، درې ښځې او درې سړي) یې ټپي کړل.[۳۵]

یوناما دغه راز د افغان هوايي ځواک د هوايي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په اړه اندېښمنه ده. د هوايي بریدونو له امله عمومي ملکي تلفات ۴۳ سلنه راکم شوي، چې دغه کموالی د فبروري پر ۲۹ نېټه د متحده ایالاتو – طالبانو ترمنځ د تړون تر لاسلیک وروسته د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د خپلو فعالیتونو د کمولو په پایله کې رامنځ ته شوی. په ۲۰۱۹ کال کې د ورته مودې په پرتله د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو د افغان هوايي ځواک د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات درې برابره زیات شوي،[۳۶] چې د اپریل او مې میاشتې یې تر ټولو لوړ شمیر په ډاګه کوي. ښځې او ماشومان د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوايي بریدونو په پایله کې د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو له نیمه یې زیاته برخه او یوازې د افغان هوايي ځواک د بریدونو له امله د ملکي

تلفاتو ۶۵ سلنه جوړوي. د افغان هوايي ځواک د بریدونو له امله له د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو له نیمه یې زیاته برخه په کندز او بلخ ولایتونو کې رامنځ ته شوي.

یوناما د افغان هوايي ځواک له خوا پر هستوګنیزو ودانیو د یو شمیر هغو بریدونو په اړه په ځانګړي ډول اندېښمنه ده چې د لوړ شمیر ملکي تلفاتو په تېره بیا د ښځو او ماشومانو، لامل شوي. په دې کې شامل دي: د مۍ پر ۲۰ نېټه د جوزجان ولایت په مرادیان ولسوالۍ کې پر دوه کورونو د دوه هوايي بریدونو له امله شپږ ملکي وګړي ووژل شول (درې ماشومان، یوه ښځه او دوه سړي) او یوه نجلۍ ټپي شوه؛ په ورته ورځ د کندز ولایت په خان اباد ولسوالۍ کې پر یوه کور هوايي برید وشو چې درې ملکي وګړي یې ووژل (دوه ښځې او یو سړی) او پنځه نور یې ټپي کړل (څلور ماشومان او یوه ښځه)؛ د جون پر ۲۴ نېټه نیمه شپه د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې پر یوه کور هوايي برید د یوې کورنۍ څلور غړي (دوه ماشومان چې عمرونه یې له پنځه کلنۍ کم و، یوه ښځه او یو سړی) ووژل او پنځه نور (دوه ماشومان چې عمرونه یې له څلور کلنۍ کم وو، دوه ښځې او یو سړی) یې ټپیان کړل.

یوناما د دې یادونه کوي چې په یو شمیر دغو قضیو کې، د راپورونو له مخې افغان هوايي ځواک هڅه کوله چې مختلفې ودانۍ په نښه کړي خو هغه ور څخه خطا او په تصادفي ډول یې هستوګنیز کورونه ویشتي. په نورو قضیو کې، یوناما د دې راپورونه تر لاسه کړي چې دولت ضد عناصر له هستوګنیزو کورونو څخه بریدونه ترسره کوي کوم څه چې هغوي د دولت پلوه ځواکونو د ځوابیه بریدونو له ګواښ سره مخ کوي.

**د ۲۰۲۰ کال د جون په ۲۹ مه د هلمند ولایت کې د طالبانو د ډزو په غبرګون کې د افغان ملي اردو هاوان برید**

د هلمند ولایت په سنګین ولسوالۍ کې د جون د ۲۹ نېټې پر سهار، د ۲۱۵ میوند قول اردو ځمکنیو ځواکونو دري هاوانونه ګذار کړل او د ګڼ ګوڼي پر ډک مارکیټ ولګېدل چې له امله یې کم نه کم ۵۰ ملکي تلفات (د شپږو ماشومانو په ګډون ۱۹ مړه او د ۱۱ ماشومانو په ګډون ۳۱ ټپیان) رامنځ ته شول. د منابع له قوله پېښه هغه مهال رامنځ ته شوه کله چې افغان ملي اردو د بازار په شا کې له یوه جومات څخه د طالبانو هاوان برید ته غبرګون وښود، خو په پام کې نیول شوی هدف خطا شو. د یوې نا دولتي اداري ایمرجنسي له خوا چلېدونکې د لومړۍ مرستي روغتون چې د برید موقعیت ته څېرمه په ۲۰۰ متري کې پروت دی په دغې پېښه کې زیانمن شوی، خو د پېښې قربانیانو ته یې د طبي خدمتونو وړاندې کول جاري ساتلی و.[37]

د پېښې پر ورځ په یوه اعلامیه کې، ولسمشر غني دغه پېښه وغندله او هغه یې د یوه "تروریستي برید" په څیر توصیف کړه او پر طالبانو یې د جګړې د درولو غږ وکړ.[38] د جون پر ۳۰ نېټه، د افغان ملي اردو د ۲۱۵ لوا قوماندان په ډاګه کړه چې یو څېړنیز ټیم د پېښې په اړه د هر ډول توضیحاتو د برابرولو په موخه د والي لخوا پر دنده ګمارل شوي او د ملکي تلفاتو په اړولو کې یې د افغان ملي اردو لاس لرل رد کړل.[39] د جولای پر ۸ نېټه، د ولسمشر غني له خوا یو استول شوی هیئت هلمند ته ورسید او په سنګین ولسوالۍ کې یې د پېښې له ځای څخه لیدنه وکړه.

یوناما دواړو افغان ملي امنیتي ځواکونو او طالبانو ته د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې د خپلو مکلفیتونو یادونه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلې د مخنیوي او ملکي شیانو ته د تصادفي زیان د مخنیوي او په هر صورت کې د راکمولو لپاره ټول ممکنه احتیاطي تدابیر ترسره کړي او د خپلې ولکې لاندې سیمو کې ولسي خلک د بریدونو له اغېزو خوندي کړي.[40] په دغو اقداماتو کې د جګړې د وسیلو او لارو چارو په غوره کولو کې ټول ممکنه احتیاطي تدابیر په پام کې نیول شامل دي، لکه تر ټولو د مشخصې مناسبې د لاس رسي وړ وسلې د کارونې مکلفیت او دغه دا مکلفیت چې تر شوني برید په ملکي میشتو سیمو کې د نظامي شیان او موخو له واقع کولو څخه ډډه کول.[41] طالبانو راپور ورکړی چې له ملکي میشتو سیمو څخه د طالبانو د برید ترسره کول او د افغان ملي اردو له خوا د ګڼې ګوڼې د ډک مارکیټ په لور پر پراخه سیمه د اغیز ښیندونکو وسلو کارونه د دواړو لورو له خوا د دغه اصل د رعایت کولو په اړه جدي اندېښنې راپورته کوي.

یوناما له دولت څخه غوښتنه کوي چې خپلې څېړنې بشپړې کړي، له مرتکبینو سره احتساب وکړي، د څېړنو موندنې له خلکو سره شریکې کړي او د رامنځ ته شوي زیان د رغېدو لپاره ګامونه پورته کړي، لکه په ګڼ میشتو ملکي سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو پر کارونه د محدودیتونو وضع کول.

## د هوايي بریدونو له امله ملکي تلفات

جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې ۲۰۲۰




د اندېښنې وړ بله پېښه د می پر ۱۱ نېټه د بلخ ولایت په بلخ ولسوالۍ کې رامنځ ته شوې. افغان هوایي ځواک داسې مهال پر یوه ډله ملکي وګړو هوایي برید ترسره کړ څوک چې د طالبانو له خوا د سرک ورانولو ته اړکړای شوي وه ، څو له دغې لار د افغان ملي امنیتي ځواکونو د تېریدو مخه ونیسي. د دغه برید په پایله کې ۲۲ ملکي تلفات (نهه مړه او ۱۳ ټپیان) رامنځ ته شول. یوه ورځ وروسته، د تولنې شا و خوا ۲۵۰ غړو د دغه هوایي برید په خلاف لاریون وکړ، چې لویه لار یې بنده کړې وه او د افغان ملي اردو د کاروان د تېریدو مخه یې ډپ کړې وه. لاریون کوونکو د هوایي برید د قربانیانو جسدونه له ځان سره لېږدول او هڅه یې کوله چې د افغان ملي اردو ټانکونو ته اور ورته کړي. په غبرګون کې، افغان ملي اردو پر لاریون کوونکو ډزې وکړې چې یو نارینه یې وواژه او څلور نور یې ټپیان کړي.

یوناما یو ځل بیا د افغان حکومت لپاره خپله غوښتنه تکراروي چې ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو وسلو (هاوانونه، راکیټونه او لاسي بمونه) او د نورو چاودیدونکو وسلو چې پر پراخې سیمې خپل اغیز ښیندي، کارونه ودروي، او د تاکتیکي لارښوونو، د نښتې د قواعدو او د جنګي الوتکو د کاروني په تړاو د نورو طرز العملونو جوړول او ښه کول جاري وساتي. یوناما یو ځل بیا د ملکی وګړو د ساتنې په اړه دولت ته د خپلو مکلفیتونو یادونه کوي، کوم چې آن په هغو حالاتو کې هم نه کمیږي کله چې دولت ضد عناصر له هستوګنیزو کورونو ډزې کوي یوناما دولت ضد عناصرو ته د دې هڅې د کولو له ځانګړې ارادې سره چې نظامي اهداف له په نښه کولو خوندي کړي د بشرپالنې تر نړیوال قانون لاندې د نظامي اهدافو او ملکیانو په عمدي ډول په یو ځای کې د واقع کولو د ممنوعیت یادونه کوي.[۴۲]

*"طالبانو چې زموږ په کلي کې یې مورچل نیولې وو ، پر لویه لاره پر تیریدونکې افغان ملي اردو باندې برید وکړ. له الوتکې څخه یو بم ناڅاپي زما پر کور ولګید او زه بې هوښه شوم. تر ۲۰ دقیقو وروسته په هوښ راغلم ومې لیدل چې زما د کورنۍ غړي سخت ټپي شوي... دغې پېښې زموږ پر کورنۍ سخت فیزیکي او رواني اغیز درلود. زما چپ لاس چې په دغې پېښه کې ټپي شوی و، اوس سم کار نه کوي. دا زما د کار لپاره ستونزه جوړوي څرنګه چې معمولا په ګرونده کې کارکوم – زه نو نور درانده کارونه نه شم ترلاسه کولی. زما میرمن اوس سمې خبرې نه شي کولی. هغه د شپې ډاریږي او له خوبه راپورته کیږي. هغه اوس پر خپلو ماشومانو پام نه شي کولی. زما د کورنۍ غړي نورې روغتیایي پاملرنې ته اړتیا لري، خو زه پیسې نه لرم."*

- د اپریل پر ۳ نېټه د بغلان ولایت په پلخمري ولسوالۍ کې د افغان هوايي ځواک د هوايي برید قرباني، د دغه برید له امله درې ماشومان ووژل شول او د هغه ترڅنګ د هغه د کورنۍ درې نور غړي یې ټپیان کړل.

یوناما د ملکي تلفاتو په تحقیقاتو کې د رڼتیا پر اهمیت ټینګار کوي، او د ملي امنیت شورا هڅوي چې یوناما ته د ملکي تلفاتو د پېښو ځوابولو کې د معلوماتو چمتو کولو کار بیا پیل کړي ، کوم چې دې ماموریت ورسره شریک کړي. یوناما د غوڅ ملاتړ څخه غواړي چې د افغان دفاعي ځواکونو " روزل ،مشورو ورکړه او مرسته کولو " ته ادامه ورکړي او د دې سر بیره د ملي امنیت شورا سره د ملکي تلفاتو تعقیب او تحقیقاتو ته وده ورکول او د دې معلوماتو کارول، د عملیاتو وروسته بیاکتنې او درسونه زده کړې تمرینونو همکاري ته ادامه ورکړي.

## پنځم. د کوویډ-۱۹ وبا پر مهال پیښې کومې چې د روغتیایي پاملرنې تاسیسات اغیزمنوي

یوناما د کوویډ-۱۹ناروغۍ پر مهال د روغتیایي تاسیساتو او کارکونکو د ساتنې حیاتي اهمیت په وار وار مطرح کړی، کوم چې په افغانستان کې په ملکي وګړو اغیزه کړې. [43] په افغانستان کې حتی د کوویډ-۱۹ ناروغۍ له پیل څخه وړاندې د هیواد کمزوری روغتیایي سیستم لا له پخوا تر ډیر فشار لاندې و او لکه څنګه چې تایید شوې قضیې په دوامداره توګه په لوړیدو دي، نو له دې سره د روغتیایي چارو پر چمتو کونکو غوښتنې هم یوازې پر ډیریدو دي.

د روغتیاپالنې پر تاسیسات د ټولټال ۲۷ مستقیمو بریدونو، د روغتونونو او خوندي پرسونلو په شمول، او همداراز د نهه غیر مستقیمو بریدونه په شمول، د ۲۰۲۰ کال په لومړی نیمایي کې، یوناما ټولټال ۳۶ پیښې کومې چې روغتیا پالنه اغیزمنوي، تایید کړې. ډیرې دغه پیښې د طالبانو له خوا ترسره شوې. له هغه راهیسې چې یوناما د روغتیایي پاملرنې په اړه د بریدونو په تړاو خپل ځانګړي راپور، کوم چې د ۲۰۲۰ کال د مارچ د ۱۱ څخه د مۍ تر ۲۳ پورې موده رانغاړي، خپور کړ، ماموریت د هغو پیښو مستند کولو ته ادامه ورکوي چې طالبانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي، په ځانګړي توګه هغه پیښې چې د روغتونونو او دروغتیايي کلینیکونو په دننه او شاوخوا کې د غیر مستقیمو ډزو د کاروني له امله را منځ کیږي. د بیلګې په توګه، د مۍ په ۳۱، د کاپیسا ولایت په آله سای ولسوالي کې، طالبانو د افغان ملي پولیسو پر یوه اډه چې د ولسوالۍ په اداري مرکز کې موقعیت لري ډزې وکړې. افغان ملي پوځ د هاوان د ګولۍ په توغولو سره ځواب ورکړ کومه چې د ولسوالۍ د روغتیايي کلینیک له اصلي ودانۍ څخه شاوخوا لس متره لرې راپریوته، چې په پایله کې یې په کلینیک کې موجوده یوه ښځه ټپي کړې، د کلینیک کړکۍ یې ماتې کړې او د کلینیک امبولانس او د کلینیک د مشر شخصي موټر ته یې زیان اړولی.

د ۲۰۲۰ د جون په ۱۷، د لوګر ولایت د پل علم په ولسوالي کې د طالبانو له خوا یوه توغول شوې راکټ پر ولایتي روغتون اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې د روغتون چت ته زیان اوښتی، کړکۍ ماتې شوې او د اټکل ۷۰۰۰۰ افغانیو په ارزښت یې روغتیايي سامان آلات زیانمن کړې. د راپورونو پر اساس د طالبانو د راکټ هدف د نوي والي د ټاکل کیدو لپاره د حکومت د لمانځغونډې د مراسمو په نښه کول و چې پر ټاکل شوی هدف و نه لګید.

طبي تاسیساتو او پرسونلو ته تر نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې ځانګړي محافظتونه برابر شوي دي.[٤٤] یوناما د شخړې ښکیلو خواوو ته د هغوی مسؤلیت ور په یادوي ترڅو ټول ممکنه احتیاطي تدابیر اتخاذ کړي څو یقیني شي چې طبي تاسیسات او پرسونل د برید څخه خوندي دي. د روغتونونو او اړوندو پرسونلو په شمول، د روغتیایي پاملرنې د تاسیساتو پر وړاندې د تاوتریخوالي عمدي کړنې، د نړیوال بشردوستانه قانون لاندې منع دي او جنګي جرمونه تشکیلوي. دا ډول بریدونه په وسله واله شخړه کې د ماشومانو پر وړاندې د شپږو سرغړونو څخه یوه هغه تشکیلوي، کوم چې د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د عمومي منشي د کلنی راپورونو په ضمیمه کې د فهرست کولو لپاره یو لامل دی.

یوناما یو ځل بیا ټینګار کوي چې د روغتیایي پاملرنې پر وړاندې بریدونه، په ځانګړي توګه د صحي ناروغي پر مهال، په افغانستان کې د ټولو ملکي وګړو ژوند له خطر سره مخ کوي او د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې د هغوی د فزیکي او رواني روغتیا د لاسته راوړنې وړ تر ټولو د لوړ معیار حق په جدي ډول د خطر سره مخ کوي. یوناما د موضوع په اړه په خپل ځانګړي راپور کې خپاره شوي وړاندیزونه د شخړې ښکیلو خواوو ته یو وار بیا ور په یادوي، د هغو په شمول چې په سمدستي ډول د روغتیایي پاملرنې په وړاندې عمدي بریدونه درووي، په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د غیر مستقیمو ډزو کارول درووي، په ځانګړي توګه د روغتیایي مرکزونو په دننه او شاوخوا کې، او د صحي خدمتونو په تړاو د مستقیمو او غیر مستقیمو مداخلتونو ټولې پیښې وڅیړي. د افغانستان د خلکو روغتیا او سوکالي باید د کوویډ-۱۹ ناروغۍ پرمهال لومړیتوب بندي شي.

**په روغتیا پالنې بریدونه او په ځانګړې ډول د کویډ-۱۹ وبا په مهال په افغانستان کې د ټولو وګړو ژوند په خطر کې غورځوي ، چې په دې مهال د فزیکي او رواني صحت غوره معیاري خدمتونو ته د لاس رسي حق تشکیلوي.**

## شپږم. د ماشومانو استخدام او کارونه

د کوویډ-۱۹ وبا په جریان کې د شخړې د ښکیلو ډلو لخوا د ماشومانو استخدام او کارونه په افغانستان کې ماشومان په ځانګړي توګه زیانمنوي. د مارچ په نیمايي کې، د افغانستان حکومت د کوویډ-۱۹ وبا د خپریدو د مخنیوي په خاطر ښوونځي وتړل او سوداګریز فعالیتونه یې محدود کړل. پداسې حال کې چې د ویروس د خپریدو څخه د وګړو د ساتلو په موخه یاد اقدامات اړین وو، دغو اقداماتو زده کړې، روغتیایي پاملرنې او ټولنیزو خدمتونو ته د ماشومانو لاسرسي قطع کړ، پداسې حال کې چې دغه اقدامونه په والدینو، سرپرستانو او ساتونکو باندې نوي فشارونه هم واردوي. اقتصادي ستونزې چې د ښار بندیز له تدابیرو سره تړاو لري پر ماشومانو فشار راوړي تر څو د خپلو کورنیو لپاره په ځانګړي توګه کله چې دوی په ښوونځي کې نه وي، پیسې وګټي، په دې سره دوی د استخدام او ګمارنې د خطر په معرض کې واقع کوي.

د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمايي کې، یوناما د طالبانو له خوا د ټولټال ۲۳ ماشومانو استخدام او کارونه[٤٥] تاییدوي، چې ۲۲ هغه یې په شمال ختیځه سیمه او یو یې په ختیځه سیمه کې استخدام شوي. په دغو پیښو کې هغه ماشومان ښکیل وو چې عمرونه یې د ۱۳-۱۷ کلونو تر منځ وو او څوک چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو پر وړاندې د جګړه ییزو فعالیتونو د ترسره کولو په موخه، د ځانمرګي بریدونو په شمول، د طالبانو له خوا استخدام، په وسله سمبال او روزل شوي. د بیلګې په توګه، د فبرورۍ په لومړیو کې، طالبانو درې هلکان چې عمرونه یې د ۱۵-۱۶ کلونو تر منځ وو استخدام کړل تر څو د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه قومندان پر وړاندې چې د بغلان په ولایت کې د کوژدنې په مراسمو کې ګډون کوي ځانمرګی برید ترسره کړي. مراسمو ته له رسیدو څخه وړاندې، یوه ماشوم په ناڅاپي ډول خپل په لاس جوړ چاودیدونکي توکي وچول، چې په نتیجه کې یې خپل ځان ووژاه او دوه نور ماشومان یې ټپیان کړل.

د شته حساسیتونو او د ماشومانو د خوندیتوب په اړه د اندیښنو په نظر کې ساتلو سره، داسې باور کیږي چې د ماشومانو د استخدام او کارولو پیښې په افغانستان کې په پراخه کچه نه راپور کیږي، نو له دې امله یې تایید ستونزمن دی. د کوویډ-۱۹ وبا پر مهال، د طالبانو له خوا د ماشومانو د استخدام او کارونې د تایید شویو پیښو سربیره ، یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې د ماشومانو د استخدام او کارونې په اړه مخ پر زیاتیدونکي راپورونه ترلاسه کړي. د راپور سره سم، ماشومان اوس مهال د افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو لخوا د ملاتړو کارونو د ترسره کولو، د بیلګې په

توګه، د ساتونکو او موټر چلونکو په حیث، د تلاشي په پوستو کې د جګړه ییزو دندو د پر مخ بیولو، د جنسي استثمار او بچه بازۍ په ګډون استخدام کیږي او یا کارول کیږی. پداسې حال کې چې ماموریت د ماشوم د ساتنې د اصولو "ماشومانو ته زیان مه رسوئ" او د ماشوم د غوره ګټو څخه پیروي وکړئ، یوناما په دې کار کوي چې دا راپورونه تایید کړي. په ټول هیواد کې د افغان د ملي پولیسو د استخدام په مرکزونو کې د ماشوم د ساتنې د واحدونو د کار له لارې، د ماشومانو د استخدام او کارونې د پای ته رسولو او مخنیوي په هدف یوناما د افغانستان د دولت لخوا ترسره شوي پرمختګونه په ګوته کوي. یوناما همداراز یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو څخه د مخنیوي او شکایتونو لپاره د طالبانو کمیسیون په ۲۰۱۹ کال کې د طالب قوماندانانو لخوا د ماشومانو د استخدام د ادعاوو د څیړلو په تړاو مثبت پرمختګونه ترسره کړي. په هرصورت، د استخدام او کارونې د نه په شا تلونکي فزیکي او رواني زیان څخه د ماشومانو د خوندیتوب او خلاصون په موخه باید په ځانګړي توګه د کوویډ-۱۹ ناروغۍ پر مهال زیاتې کړنې ترسره شي. یوناما حکومت هڅوي چې د تلاشي په پوستو کې د ماشومانو د کارونې لپاره د نظارت په برخه کې د ماشومانو د ساتنې له واحدونو څخه په لا فعاله توګه کار واخلي او ډاډمن کړي چې په پارلمان کې د ماشومانو د ساتنې قانون تصویب شي. د ملکي تلفاتو او شکایتونو د مخنیوي لپاره د طالبانو د کمیسیون لخوا د قوي تحقیقاتو او حساب ورکونې د تدبیرونو په شمول، یوناما له طالبانو څخه غوښتنه کوي چې د ماشومانو د استخدام او کارونې څخه لاس په سر شي او مخه یې ونیسي.



## اووم.  په قربانیانو او د هغوي د کورنۍ پر غړو د وسله والې شخړې اغیز

د فزیکي زیان، عاطفي او رواني کړاو، مالي ویجاړتیا او د هغوي د بنسټیزو بشري حقونو څخه د برخمن کیدو په اړه د نورو منفي اغیزو په شمول، د افغانستان ملکي وګړي د وسله والې نښتې له امله، په انفرادي او جمعي توکه، بې شمیره زیان او تاوان لیدلی. کوم ابتدایي زیان چې د وسله والې شخړې د یوې مشخصې پیښې له امله رامنځ ته کیږي اکثرا پیچلې کیږي او ښکیلې ډلې یې د څوابولو په برخه کې پاته راځي. په افغانستان کې د ملکي وګړو اوسنۍ او راتلونکې هوساینه د افغانستان د حکومت او طالبانو دواړو لپاره مشترکه علاقمندي ده. د شخړې د قربانیانو د تجاربو، اړتیاوو او حقونو لومړیتوب بندي کول به د دواړو خواوو لپاره د سولې د خبرو اترو لپاره د یوه مناسب چاپیریال د رامنځ ته کولو او همدا راز د یوې پایښت لرونکې سولې د یقیني کولو لپاره اړین وي.

**د یوناما لخوا هره مرکه شوی شخص په پرله پسې توګه د ملکي تلفاتو د پیښو د پیښیدو څخه اوونۍ او میاشتې وروسته له فزیکي او جسمي پلوه اغیزمن شوي، "کله چې زه په یوه خونه کې ناست یم او د باد د خوځښت له امله کړکۍ په زوره بنده شي، نو زه ډیر و ویریږم چې مکه بمي چاودنه وشوه. حتی ځیني وختونه چې یو څوک ماته زنګ ووهي زه تلیفون ته هم ځواب نه شم ورکولای او کله چې یو څوک  ماته رنګ ووهي نو زه ویریږم چې دوي به په رواني،مالي ټولنیز او په په کوم بل ډول د ټلیفون له لارې ما ته بد خبرونه ووایې "**

د دې لپاره چې د یوناما د ملکي تلفاتو د مستند کولو د چارو لپاره پراخه زمینه چمتو شي، ماموریت د ۲۰۲۰ په دوهمه ربع کې په قربانیانو او د هغوی په خپلوانو د وسله والې شخړې د بشري حقونو د اغیزو په سیستماتیک نظارت کولو پیل وکړ، چې د کال له پیل را نیولې په پیښو تمرکز کوي. نظارت د دې لپاره طراحي شوی څو معلومات را غونډ کړي چې څرنګه د غوره قضیو او همدارنګه هغې کچې په اړه چې د هغې په واسطه حقیقت، عدالت او د جبران خسارې په تړاو د قربانیانو حقونو ته رسیدګي کیږي، د وسله والې شخړې د پیښو په واسطه د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو څخه برخمن کیدل اغیزمنوي. د دې راپور د موخو لپاره، یوناما د هیواد د ټولو سیمو څخه د ښځو په شمول څوک چې په ۲۰۲۰ کال کې د دولت ضد  عناصرو او یا حکومت پلوه ځواکونو له خوا د منسوب شویو پیښو له امله متاثره شوې، د ټولټال ۳۶ کسانو سره مرکې ترسره کړې، (د نورو جزیاتو لپاره لاندې د میتودولوژۍ برخه وګورئ).

پداسې حال کې چې د افغانستان حکومت د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې لومړنۍ مسؤلیت لري چې په افغانستان کې د ژوندانه[٤٦] د یوه مناسب معیار لپاره د ټولو افرادو حقونو ته درناوی وکړي، ساتنه یې وکړي او هغه پوره کړئ ، غیر دولتي وسله والې ډلې چې په ځینو ساحو ریښتنی کنټرول لري، د بیلګې په توګه، لکه طالبان چې حکومت ته ورته فعالیتونه ترسره کوي مکلف دي چې د بشري حقونو نورمونو ته درناوی وکړي کله چې د دوي تر کنترول لاندې سیمو کې د هغوي کړه وړه د افرادو په بشري حقونو باندې تاثیر وکړي. پداسې حال کې چې دوي نه شي کولای د بشري حقونو د نړیوالو تړونونو برخه شي، دوي د دودیز نړیوال قانون له مخې[٤٧] د بشري حقونو د مکلفیتونو څخه نه شي منع کیدلای، او اړتیا لیدله کیږي چې په زیاتیدونکې توګه د نړیوالو بشري حقونو ځینو مکلفیتونو [٤٨] ته پابند پاته شي. د ځینې قربانیانو د حقونو د څوابولو په برخه کې د غیر دولتي وسله والو ډلو رول هم په زیاتیدونکې توګه په ګوته شوی.[٤٩]

### *الف.     د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو څخه د برخمن کیدو په اړه د وسله والې نښتې اغیز*

د وسله والې شخړې په حالتونو کې، د مدنې او سیاسي حقونو سربېره ، د اقتصادي، ټولنیزو او کلتوري حقونو ساتنه مهمه ده. پدې کې د فزیکي او رواني روغتیا تر ټولو د لوړې کچې ترلاسه کیدونکې معیار حقونه؛ د بیلګې په توګه د نه توپیر د اصولو سره په سمون کې، د تعلیم؛ خواړو، پوښاک او مسکن؛ د کار کولو او په ټولنیز او کلتوري ژوند کې د برخه اخیستنې حقونه شامل دي. د یوناما لخوا ابتدایي نظارت په ډاګه کوي چې د قربانیانو او د هغوي د کورنیو هغه وړتیا چې څنګه د دغو حقونو څخه برخمن شي د ملکي تلفاتو د پیښو په واسطه له هغه څخه ډیر وروسته چې واقع شي، متاثره کیږي، او د هغوي کړاو  څو برابره زیاتوي.

د یوناما لخوا هر مرکه شوی شخص په پرله پسې توګه د پیښې وروسته په یوه ډول نه یوه ډول د بیلګې په توګه، په فزیکي، رواني، مالي، ټولنیز یا کوم بل ډول اغیزمن شوی.




د ټولټال ۳۶ انفرادي کسانو له جملې څخه چې د یوناما له خوا مرکه شوي، ټولټال ۲۱ هغو پې ویلي چې دوي یا د دوي خپلوان د شخړې له امله د بدن د غړو د له لاسه ورکولو، د خوځښت د له لاسه ورکولو یا فلج په شمول، د اوږدې مودې یا دایمي معلولیت څخه رنځ وړي. پداسې حال کې چې ډیری مرکه شویو کسانو راپور ورکړی چې د پیښې په تعقیب د دوي د جدي اړتیاوو د ځوابلو په موخه دوي لومړنۍ طبي پاملرنې ته لاسرسی درلود خو د اوږدمهاله طبي پاملرنې شتون او لاسرسی لا هم یوه اندیښنه ده. د ملکي تلفاتو د پیښو په تعقیب د روغتیایي پاملرنې د لګښت په اړه پوښتنې اکثرا د مرکو په جریان کې مطرح شوې. د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۳۰ د بلخ په ولایت کې یوه ۲۰ کلنه ښځه د خپلو خویندو سره یو ځای د افغان ملي پوځ لخوا د هاوان د یوه برید په نتیجه کې ټپي شوه. هغې په دې اړه یوناما ته ویلي چې څنګه د هغې جاري روغتیايي مسلو، د هغې د توان په شمول چې څنګه خپلې دیني چارې پر مخ بوزي، د هغې ورځنۍ ژوند متاثره کړی:

**"موږ له اوسنۍ جګړې څخه ستړي شوي یو، د جګړې دواړه خواوې باید جګړه ودروي. دوي باید د ملکي وګړو او ملکي ملکیتونو ساتنې ته پاملرنه وکړي. دوي باید یو ځای سره کښیني او د یو بل د وژلو پر ځای د سولې او سعادت لپاره پریکړه وکړي."**

*"له هغه راهیسې چې ټپي شوم، زه د پښوا په شان په اسانۍ سره حرکت نه شم کولای. زه حتی په سختۍ سره خپل لمونځونه کوم. زه د خپل ټپ له امله په کور کې په کار کولو کې ستونزه لرم. زه ځینې وختونه په خپلو پښو او ملا کې درد احساسوم؛ زه د ټروما احساس کوم او بیا په ژورو فکرونو کې ډوبېږم. د پېښې وروسته، ما بیا د خوښۍ احساس نه دی کړی. زه کابو معیوب یم او د کور ورځنې کارونه پر مخ نه شم وړای.*

ټولو مرکه شویو کسانو راپور ورکړی چې د پېښې په واسطه د هغوي عاطفي سوکالۍ په منفي توګه اغېزمنه شوې، که څه هم چې یوه تن د رواني ملاتړ د ترلاسه کولو په اړه راپور ورکړی. ګڼ شمیر اشخاصو د عاطفي ټکان، غم، خپګان او اضطراب په اړه تر هغه حده خپلې تجربې یادولې چې د هغوي ورځني ژوند یې تر ډېره متاثره کړی و. یوناما د یوه ۳۸ کلن سړي سره د هغه د تجربې په اړه چې کله هغه او د هغه دوه ورونه د کال په لومړیو کې د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو د برید څخه ژوندي پاته شول خبرې کړې. هغه او د هغه یو ورور په پیښه کې ټپي شو، او بل د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۲۹ د پکتیا ولایت په ګردیز ښار کې هغه مهال ووژل شو چې کله د طالبانو له خوا مقناطیسي نښلول شوی ځای پر ځای شوی ماین د دوي د موټر پر وړاندې هغه مهال وچاودید چې کله دوي له یوه دوکان څخه تر لیدو وروسته د کور په لور په حرکت کې وو:

*"کله چې زه په یوه خونه کې ناست یم او د باد د وزښت له امله کړکۍ په زوره بنده شي، نو زه ډېر و ویرېږم چې مګه چاودنه وشوه. حتی ځینې وختونه چې یو څوک ماته زنګ ووهي زه تلیفون ته هم ځواب نه شم ورکولای ځکه چې زه ویرېږم چې دوي به د تلیفون له لارې ما ته بد خبر ووايي. زما مور او پلار هم زموږ په اړه ډېر اندېښمن وي او تل موږ ته دا لارښوونه کوي چې د ماښام هه خوا په دوکان کې تر ناوخته تم نه شو. حتی که موږ لس دقیقې هم ناوخته شو، موږ ته په مکرر ډول زنګ وهي تر څو معلومه کړي چې موږ ښه یوو او موږ ته څه نه دي پېښ شوي."*

د طبي پاملرنې او جنازې د لګښتونو، او همدارنګه د کورنۍ د ډوډۍ راوړونکي غړي د مړینې یا ټپي کېدو له امله د عایداتو د له لاسه ورکولو په شمول، اکثریت مرکه کونکي (۳۳) یا خو په خپله او یا یې د کورنۍ غړي په مالي لحاظ د پېښې له امله زیانمن شوي. یوناما د یو سړي سره خبرې کړې د چا پلار، تره، ورور او وراره چې د مۍ په ۳۱ د بدخشان په ولایت کې هغه مهال د طالبانو لخوا ووژل شول کله چې د کوژدې له مراسمو څخه په موټر کې کور ته روان و:

*"د خپلو عزیزانو د له لاسه ورکولو سربیره، زما او زما د تره کورنیو دواړو خپل سر پرستان او ډوډۍ راوړونکي له لاسه و رکړل. موږ اوس هیڅ ملاتړ کونکي نه لرو. موږ یوه غریبه کورنۍ یو او زما پلار او تره هره ورځ کار کاوه ترڅو د کورنۍ لپاره خواړه راوړي ... [اوس] زما د تره نهه کوچني ماشومان او زما د پلار یوولس کوچني ماشومان بنسټیزو خدمتونو ته لاسرسی نه لري. زما خویندې او ورونه او زما وریرونه نور نه شي کولای له مالي ملاتړه پرته خپلې زده کړې ته دوام ورکړي."*

**"زه هیله لرم چې ټولې وسله واله ډلې او ځواکونه به هغه زیانونه چې دوي زما په څېر قربانیانو ته اړولي ومني او هغوي ته رسیدګي وکړي. که چېرې دوي تیروتنه کړي وي ،هغوي باید زموږ د ټپي کیدو او ژوند د لاسه ورکولو لپاره خساره راکړي. هغوي باید انساني ژوند او امنیت ته درناوی وکړي او یوائې خلک ونه وژني "**

سړي په تفصیل سره وویل چې څنګه یې مور احساس وکړ چې د هغه ژوند په خطر کې دی او په پایله کې له خپل کلي څخه وتښتید. هغه اوس د خپلې کورنۍ څخه جلا اوسي، د ځان او د هغوي د خوندیتوب په اړه د اندیښنو له امله د خپلې کورنۍ سره اړیکه نه لري او بې کوره دی. د یوناما د مرکو پر اساس، له بده مرغه د هغه تجربه غیر معمولي نه وه. نږدې ټولو مرکه کونکو (۳۰) راپور ورکړی چې دوي د دې احساس کړی چې د دوي خوندیتوب او امنیت د شخړې په واسطه اغېزمن شوی. یولس کسانو- د ټولو مرکه کونکو یو پر دریمه برخې راپور ورکړی چې په تیره بیا د امنیتي پیښو له امله کومو چې دوي یې متاثره کړي د پېښې له امله نورو موقعیتونه ته تللي.

د مرکه کونکو اکثریت (۲۳) هغو د وسله والې نښتې له امله په ودونو، د کوژدنې په مراسمو، جوماتونو او نورو مهمو پیښو کې د ګډون په شمول، په ټولنیز او کلتوري ژوند کې د هغوي د برخې اخیستنې په وړتیا د منفي اغیزو په اړه راپور ورکړی. یوناما د ۲۰۲۰ کال د مارچ په ۳۰ په تخار ولایت کې د دولت پلوه وسله والې ډلې لخوا د وژل شویو دریو کسانو له جملې څخه له یوه تن سره چې د نږدې ۳۵ کالو دی له یوه نارینه خپلوان سره مرکه کړې، چې ویلې یې دي:

*"له هغه راهیسې چې پیښه رامنځ ته شوې، موږ په کلي د واده په مراسمو کې ګډون نه دی کړی او د کوچني اختر په ورځو کې د خپلو خپلوانو کره نه یو تللي. پیښه هره شیبه زموږ د سترګو په وړاندې ده."*

د یوناما د څارنې لومړنۍ پایلې ښيي چې د ملکي تلفاتو پیښې د قربانیانو او د هغوی د کورنۍ د غړو پر بشري حقونو پراخې منفي اغیزې لري، چې د ورځني ژوند هره برخه متاثره کوي. یوناما د وسله والې جګړې له امله د زیانمن شویو ملکي وګړو لپاره پر اهمیت ټینګار کوي تر څو د ارزانه طبي درملنې، او اقتصادي او ټولنیزو مرستو په شمول په وخت او کافي ملاتړ ترلاسه کړي، ترڅو هغوي د خپل ژوند د بیا جوړولو په هدف کار وکړي.

### ب. د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا هڅې تر څو اوښتي زیان ته رسیدګي وکړي

د بشري حقونو نړیوال قانون د حقیقت[50]، عدالت[51]، د خسارې د ورکړې[52](د جبران، خسارې د ورکړې، بیارغونې، رضایت او د نه تکرار د ضمانتونو په شمول) او د سرغړونو د بیا نه پیښیدو  په ضمانتونو (د مخنیوي دنده) پورې اړوند د قربانیانو په حقونو پورې اړوند ځینې حقونه او دندې په رسمیت پیژني.[53] یوازې په تیرو وختونو کې د رامنځ ته شویو زیانونو په ځوابولو سره به ښکیلې خواوې وکولای شي چې په راتلونکي کې د دې ډول پیښو د بیا پیښیدو څخه په مؤثره توګه مخنیوی وکړي. د اندیښنې وړ خبره خو دا ده چې د یوناما لخوا ابتدایي نظارت ښيي چې ډېری قربانیان او د هغوي کورنۍ د ملکي تلفاتو د پیښو په پایله کې معلوماتو ته د لاسرسي، خسارې، د زیان او بخښنې د تصدیق کولو پرته په ځای پاتې شوي.

"زه هیله کوم چې ټول [جنګیالي] به هغه زیانونه چې دوي زما په شان قربانیانو ته اړولي ومني او هغو ته رسیدګي وکړي. هغوي باید زموږ د ټپي کیدو او د ژوند د له لاسه ورکولو لپاره خساره راکړي. هغوي باید انساني ژوند او امنیت ته درناوی وکړي ، او یوازې خلک و نه وژنی."

تقریبا یو پر دریمه برخه قضیو کې چې د یوناما له خوا تعقیب شوي ایا قربانیانو یا د هغوي د کورنۍ غړو د ځان یا د خپلوانو عزیزانو په اړه چې څه ور پیښ شوي معلومات ترلاسه کړي، دا ډول معلومات د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا اکثرا د ټولنې د غړو یا روغتیايي متخصصینو څخه ترلاسه شوی.

یوازې په ۶ قضیو کې زیانمن شوي اشخاص د یو ډول رسمي پلټنې په ترسره کیدو خبر وو. د ټولو قضیو په نږدې نیمايي(۱۷) کې، یوناما یوازنۍ ارګان و چې د پیښې په اړه د دوي سره خبرې کړې. حکومتي چارواکي یا د افغان ملي امنیتي ځواکونو غړي یوازې په یولس پیښو کې قربانیانو یا د هغوی کورنیو ته او طالبانو یوازې په دریو کې قربانیانو یا د هغوی کورنیو ته رسېدنه کړې.

د یوناما لخوا مرکه شویو نږدې ټولو قربانیانو او د هغوی د کورنۍ غړو (۳۰) راپور ورکړی چې نه خو یې د اوښتي زیان او نه خو یې د هغه څه لپاره چې دوي ته ور پیښ شوي د هغو په اړه اعتراف او بخښنه تر لاسه کړې. د نیمايي څخه په زیاتو قضیو (۱۶) کې د خسارې د جبران د ادعاوو سریره، د ۳۶ قضیو له جملې څخه یوازې په پنځو هغو کې مرستې شوې، که څه هم چې یادې مرستې دومره نه وې لکه څومره چې د داخلي قانون له مخې قربانیان او د هغوي خپلوانو ته په نظر کې نیولې شوې.

کله چې د هغوي څخه وپوښتل شول چې په راتکونکي کې د دوي لپاره کوم شی ډېر مهم دی، نو نږدې ټولو مرکه شویو کسانو (۳۰ ) د اوښتي زیان لپاره د مالي تاوان ورکړې ته اشاره وکړه، همدارز زیاترو هغو یې بیا د دې ډول پیښو د بیا پېښیدو  د مخنیوي او (دوارو ۲۲) د لومړیتوب د ملاحظې په حیث  د عدالت د هڅو یادونه وکړه. یو ۲۷ کلن سړی چې د ۲۰۲۰ کال د اپریل په ۲۳ په لغمان ولایت کې د افغان ملي پوځ د راکټ په واسطه ټپي شوی و، وویل:




*"زه هیله لرم چې ټولې وسله والې ډلې [او ځواکونه] به هغه زیانونه چې دوي زما په شان قربانیانو ته اړولي ومني او هغو ته رسیدګي وکړي. که چیرې دوي تیروتنه کړې وي، هغوي باید زموږ د ټپي کیدو او د ژوند د له لاسه ورکولو لپاره خساره راکړي. هغوي باید انساني ژوند او امنیت ته درناوی وکړي، او بیوازې خلک و نه وژني."*

د یو شمیر بې شمیره کسانو د چا سره چې یوناما خبرې کړې د جګړې د پای ته رسیدو لپاره شدید تمایل ښکاره کړی:

*"موږ له اوسنۍ جګړې څخه ستړي شوي یو، د جګړې دواړه خواوې باید جګړه ودروي. دوي باید د ملکي وګړو او ملکي ملکیتونو ساتنه وکړي. دوي باید یو ځای سره کښیني او د یو بل د وژلو پر ځای د سولې او سعادت لپاره پریکړه وکړي."* - د دوو هلکانو نیکه چې ۵۵ کلن و، د ۲۰۲۰ کال د جنوري په لومړۍ نیټه د بلخ په ولایت کې د طالبانو له خوا د ځای پر ځای شوي ماین په برید کې وژل شوي وو.

*"موږ هیله لرو چې جګړه پای ته ورسیږي تر څو وکولای شو د خپل پاتې ژوند لپاره په یوه خوندي چاپیریال کې بېرته خپلو کورونو ته ستانه شو. "موږ هرڅه له لاسه ورکړل او کوښښ کوو چې ژوندي پاتې شو."* د ۲۰۲۰ د فبروري په ۲۷په غزني ولایت کې د یوه سړي ځوانه خور هغه مهال ووژل شوه او ځوان ورور او خور یې ټپیان شول چې کله د دوي د کور په انګړ کې لاسي بم موندل شو او وچاودید.

یوناما د شخړې د ښکېلو خواوو څخه غواړي چې د قربانیانو او د هغوي د کورنیو تجربې، اړتیاوې او حقونه تصدیق او ومني او ورته رسیدګي وکړي. ښکېلې خواووې باید د اوښتو زیانونو د رسیدګۍ لپاره چې دوي په تیرو وختونو کې اړولي مناسب ګامونه

پورته کړي ترڅو په راتلونکي کې یې د بیا پېښېدو مخه ونیول شي. د ملکي وګړو ساتنې او هوسایني ته په اهمیت ورکولو سره، د افغانستان حکومت او طالبان به وکولای شي د سولې د خبرو لپاره یو لا ډېر مناسب چاپېریال رامنځ ته کړي او د تلپاتې سولې لپاره د یو بنسټ په جوړولو کې مرسته وکړي.

## اتم. میتودولوژي

*د ملکي تلفاتو د ساتنې په اړه د خپلو راپورونو د موخو لپاره، یوناما یوازې تایید شوي ملکي تلفات په خپلو راپورونو کې شاملوي. ملکي تلفات د "تایید شوي" هغو په توګه ثبت کیږي چیرې چې د یوناما لخوا د بیاکتل شوي معلوماتو د مجموعې پراساس دي، مشخصه ده چې"روښانه او د قناعت وړ" شواهد شتون لري چې ښې ملکیان وژل شوي یا ټپیان شوي دي. د دې لپاره چې دا معیار ترلاسه شي، یوناما لږ تر لږه دریو مختلفو او خپلواکو سرچینو، د بیلګې په توګه، قرباني، شاهد، طبي متخصص، ځایي چارواکي، د شخړې د یوې ښکیلې ډلې له خوا تایید، د ټولنې مشر یا نورو سرچینو ته اړتیا لري. چیرې چې ممکن وي، د قربانیانو او/یا د پیښې د شاهدانو د ابتدایي حکایتونو او په ساحه کې د حقایقو د موندلو له لارې معلومات ترلاسه کیږي. چیرې چې یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو د اعتبار او باوریتوب په اړه رضایت و نه لري، نو د تایید شویو هغو په حیث یې نه شمیري. نا تایید شوې پیښې پدې راپور کې ندي شاملې. یوناما په دې راپور کې د وړاندې شوي احصایې د بشپړوالي ادعا نه کوي او په عملیاتي چاپیریال کې د شته محدودیتونو په پام کې نیولو سره، په ځانګړې توګه وروستیو ننګونو ته په کتو سره چې د کوویډ-۱۹ وبا او د خوځښت د محدودیتونو له امله را منځ ته شوي، د ملکي تلفاتو په برخه کې ممکنه کم راپورول مني.*

*یوناما د تایید شویو پیښو په اړه د شخړې د ښکیلو خواوو سره معلومات شریکوي ترڅو د خپلو راپور ورکولو په برخه کې دقت یقیني کړي تر څو په ملکي وګړو د هغوي د عملیاتو د اغیزو په ښه درک کولو کې د هغوي سره مرسته وکړي او د هغوي له خوا اوښتي زیان ته رسیدګي وکړي او د ملکي وګړو د ښې ساتنې لپاره اقدامات پلي کړي. یوناما په پرله پسې توګه د شخړې ښکیلو خواوو ته بلنه ورکوي ترڅو خپل تحقیقات پیل کړي او پایلې یې له یوناما او عامو خلکو سره شریکې کړي.*

*د دې په خاطر چې د ملکي تلفاتو د پیښو د بشري حقونو په پراخو اغیزو پوه شو، یوناما د ملکي وګړو د ساتنې کار پراخ کړی ترڅو د پیښې وروسته نظارت او راپور ورکولو ته یکې ځای ورکړي. پدې کې د ملکي تلفاتو د پیښو په را وروسته موده کې د قربانیانو او د هغوي د کورنۍ د غړو سره مرکې شاملې دي. ټولې مرکې د پیښې له نیټې څخه لږ تر لږه یوه میاشت وروسته ترسره کیږي او یوازې تر ټولټال ۲۰۲۰ پیښو پورې محدودې دي. یوناما د پیښې وروسته د نظارت لپاره قضیې انتخابوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د یو شمیر بیلابیلو اشخاصو سره (جنسیت، توکمونو، مذهبونو) مرکې ترسره شوې، او دا چې هغه پیښې چې له امله یې دوي اغیزمن شوي د تاکتیک په بیلابیلو ډولونو او مسولو اړخونو پورې تړاو لري(دواړه، دولت ضد عناصر او دولت پلوه ځواکونه). د پیښې وروسته نظارت لپاره د قضیو انتخاب د قربانیانو او د خپلوانو د شتون او همدارازد هغوي د تمایل له امله محدود دی چې په سختو او اکثره په ټکان ورکونکو موضوعاتو کې دخیل شي. یوناما د پیښې نه وروسته نظارت لپاره د اشخاصو په انتخابولو او اداره کولو کې "د زیان مه رسوئ" له اصولو څخه کار اخلي؛ هر شخص د چا معلومات چې پدې راپور کې څرګندیږي د دې د کارولو لپاره رضایت چمتو کړی. د یوناما د ملکي تلفاتو د مستند کولو برخلاف، د یوناما د اغیزې وروسته نظارت په دې نیت نه دی را منځ ته شوی چې هر اړخیز اوسي.*

*د نورو تفصیلي معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما کلني راپورونه په لاندې انټرنیټي پته وګورئ:(*[http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports](http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports)

## نهم. پایلیکونه

---

[۱] دا همدارنګه له ۲۰۱۲ کال راهیسې د کال د لومړیو شپږو میاشتو په دوران کې د یوناما له خوا مستند شوی د ملکي تلفاتو تر ټولو ټیټ عمومي شمیر دی.

[۲] په افغانستان کې، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونو آلې د پرسونل ضد ځمکنیو ماینونو په څیر کار کوي. یوناما په منظم ډول داسې پیښې مستند کړې په کومو کې چې دغه فشاري ماینونه د ماشومانو په شمول یوه شخص د وزن له امله چاودونه کړې.

[۳] د دغه راپور په موخه، "هدفي وژنې" د دولت پلوه ځواکونو یا د دولت ضد عناصرو له خوا د یوه مشخص فرد (ملکي یا جنګیالی) په وړاندې د مرګونې ځواک د عمدي کارونې په څېر معرفي شوي. په دغې اصطلاح کې د زیاتو ډزو د پیښو په ګډون د چاودیدونکو توکو او ډزو له لارې عمدي وژنې شاملې دي. یوناما هغه ملکي تلفات مستند کوي چې د دغه ډول بریدونو له امله په مستقیم یا ضمني ډول رامنځ ته کیږي. ځینې "هدفي وژنې" ښايي پر ملکي وګړو د عمدي برید تر حده ورسیږي، په داسې حال کې چې نورې هغه یې پر جنګیالیو عمدي بریدونه جوړوي چې د ملکي تلفاتو لامل کیږي.

[٤] د یادونې وړ ده چې بلخ ولایت د هغو ولایتونو ترمنځ دی چیرې چې د ولایت پر سر لوړ شمیر ملکي تلفات ثبت شوي، چې د ۲۰۲۰ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ځمکنیو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی منعکسوي. د وروستیو کلونو په خلاف، هلمند ولایت د ملکي تلفاتو د لوړ شمیر لرونکو پنځو ولایتونو په جمله کې نه و شامل؛ یوناما په دغه ولایت کې په ملکي تلفاتو کې د پام وړ کموالی ثبت کړی، چې په عمده ډول د هوایي بریدونو او د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله په ملکي تلفاتو کې د کموالی له امله رامنځ ته شوی.

[۵] راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ:.(http://alemarahenglish.com/?p=۳۵۱۵٦ (last accessed on ١٦ July ۲۰۲۰

[٦] راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://twitter.com/ashrafghani/status/۱۲٦٤۲۷۲٥۱۸۱٦٦۲۹۸٦۲۷?s=۲۰ (last accessed on ١٦ July ۲۰۲۰).

[۷] دا د ۲۰۱۸ کال په جون میاشت کې د کوچني اختر له درې ورځنې اوربند راهیسې لومړی اوربند و چې طالبانو په ښکاره اعلان کړ، له دې سره سره طالبانو د ۲۰۲۰ کال د فبروري ۲۹ د متحده ایالاتو-طالبانو تر هوکړې مخکې په ښکاره د تاوتریخوالي راکمولی منلی و. د ۲۰۱۸ کال د اوربند خلاف، طالبانو په ښکاره اعلان کړه چې د هغوي جنګیالي نه شي کولی د حکومت تر کنټرول لاندې سیمو ته لاړ شي او دا چې افغان ملي امنیتي ځواکونه نه شي کولی د طالبانو تر ولکې سیمو ته داخل شي.

[۸] یوناما ۱۸ ملکي تلفات طالبانو، ۱۴ دولت پلوه ملیشو، ۱۰ نا معلومو دولت ضد عناصرو، شپږ دواړو دولت ضد عناصر او دولت پلوه ځواکونو، او ۱ افغان ملي اردو ته منسوب کړي.

[۹] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې، یوناما طالبانو ته ۱۴۷۳ ملکي تلفات (۵۸۰ مړه او ۸۹۳ ټپیان) منسوب کړي.

[۱۰] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته ۲۹۹ ملکي تلفات (۹۵ مړه او ۲۰۴ ټپیان) منسوب کړي.

[۱۱] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې، یوناما نا معلومو دولت ضد عناصرو ته ۲۱۷ ملکي تلفات (۷۷ مړه او ۱۴۰ ټپیان) منسوب کړي.

[۱۲] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې، یوناما طالبانو ته ۱۵۰۵ ملکي تلفات (۴۳۵ مړه او ۱۰۷۰ ټپیان) منسوب کړي.

[۱۳] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ د جون تر ۳۰ پورې، یوناما د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته ۴۴۸ ملکي تلفات (۹۱ مړه او ۳۵۷ ټپیان) منسوب کړي.

[۱٤] مهرباني وکړئ د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۲۰ کال د لومړۍ ربع راپور وګورئ، په کوم کې چې یوناما د مارچ پر ۶ نېټه په کابل کې د هزار توکمو پر تلین د عراق او شام د اسلامي د برید په اړه راپور ورکړل شوی، چې له امله یې ۳۴ ملکي وګړي ووژل شول او ۷۸ نور ټپیان شول، او تر دغه برید وروسته د مارچ پر ۲۵ نېټه په کابل کې په درمسال کې پر عبادت کوونکو برید، چې له امله یې ۲۵ ملکیان ووژل شول او ۱۲ نور ټپیان شول.

[۱۵] یوناما د ننګرهار ولایت په کوز کونړ ولسوالۍ کې د جنازې پر مراسمو د ځانمرګي برید په تړاو ۱۰۶ ملکي تلفات (۲۴ مړه او ۸۲ ټپیان) مستند کړي.

[۱٦] د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې یوناما د انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله ۱۵۲ ملکي تلفات (۲۸ مړه او ۱۲۴ ټپیان) مستند کړي، په دې کې ننګرهار ولایت کې د داعش ډلې له خوا د جنازې پر مراسمو د ۲۰۲۰ کال د مې پر ۱۲ نېټه د ځانمرګي برید له امله د ۱۰۶ ملکي تلفاتو، او پکتیا ولایت په ګردیز ښار کې د ۲۰۲۰ کال د مې پر ۱۴ نېټه د طالبانو د ځانمرګي برید له امله چې د افغان ملي اردو هدف یې په نښه کړې وه، ۳۳ ملکي وګړي ټپیان شول .

[۱۷] د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې، یوناما د طالبانو له خوا د ځای په ځای شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله ۳۱۳ ملکي تلفات (۱۵۵ مړه او ۱۵۸ ټپیان) تایید کړي.

[۱۸] په ۱۹۹۸ کال کې، د پرسونل ضد ماینونو د کارونې د مخنیوي، زیرمه کولو او لیږد او د هغوي د له منځه وړلو د کنوانسیون ("د ماینونو د بندیز تړون") تر تصویب یو کال وروسته، ملا عمر یوه اعلامیه خپره کړه چې د ځمکنیو ماینونو کارونه یې غندله، د ملکي وګړو په وړاندې یې د هغوي ویجاړوونکې ځواک پېژنده، او د هغوي پر کارونه یې د بشپړ بندیز غوښتنه کوله او په ډاګه کوله یې چې هر څوک چې دغه ماینونو د شخصي، سیاسي یا د بل کوم هدف لپاره کاروي، له اسلامي شریعت سره به سم مجازات شي. دغه اعلامې د ماینونو د بندیز له تړون سره خپل غښتلي ملاتړ په ډاګه کړ. طالبان لا اوس هم د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونه کاروي کوم چې د پرسونل ضد ماینونو په څیر کار کوي.

[۱۹] د ملکي وګړو د عمدي هدف ګرځونې څخه، یوناما ۴۳۹ ملکي تلفات (۲۱۱ مړه او ۲۲۸ ټپیان) طالبانو، ۱۸۷ ملکي تلفات (۶۹ مړه او ۱۱۸ ټپیان) د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې، ۱۴۳ ملکي تلفات (۶۱ مړه او ۸۲ ټپیان) نا معلومو دولت ضد عناصرو او وژل شوی ملکي تحریک طالبان ته منسوب شوی. ، او د دې سربیره یوناما ۸۱ ملکي تلفات (۳۶ مړه او ۴۵ ټپیان) افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو ته چې په قصدي ډول په نښه کولو پېښو پورې تړاو لري منسوب کړي.

[۲۰] دغه ټویټر پاڼه وګورئ: https://twitter.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۲۷٦۹۷٥٦۹۲۰٥٦٦۱۲۸٦٤ and https://twitter.com/Zabehulah_M۳۳/status/۱۲۷۷۱۰۷۳۰۰۱٤۷۳۷٦۱۲۹ (په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۶ کتل شوې).

[۲۱] راتلونکې انټر نیټ پاڼه وګورئ:- See https://news.un.org/en/ story/۲۰۱٥/۱۰/٥۱۳۷۳۲-un-condemns-attack-human-rights-workers-afghanistan-killed-two-injured-six (په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۶ کتل شوې). د ۲۰۰۷ کال د اګست پر ۵ نېټه په یوه بله پېښه کې، طالبانو په غور ولایت کې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ولایتي رییس امیر محمد انصاري بلوچ چې له هرات څخه کابل ته پر لار و، وواژه. دغه پېښه د یوناما د ملکي تلفاتو د سیستماتیکې مستندونې او د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د ډیټابیس تر جوړولو پخوا رامنځ ته شوې.

[22] د جینوا کنوانسیونونو د دریمې مشترکې مادې ۳( ډي) او د ۱۹۹۸ کال نړیوال جنايي محکمې د منشور ۸ ماده ( ۲) ( سي) (iv ) ؛ د يوې منظمې تشکیل شوې محکمې له خوا د مخکني قضاوت د حکم پرته د سزاګانو صادرول او اعدامونو ترسره کول، چې ټول هغه قضايي ضمانتونو پوره کوي کوم چې په عمومي ډول پېژندل شوي، په داخلي جنګونو کې جنګي جرايم تشکیلوي.

[23] د شکنجې او نورو ظالمنه، غیر انساني یا له سپکاوي ډک چلند یا سزا په اړه د ملګرو ملتونو ځانګړي راپور ورکوونکي عمومي اسامبلې ته په خپل راپور کې د دې یادونه کړې چې علني اعدامونه پر مرګ سزا د محکومو کسانو رواني ترما زیاتوي او زیاتره هغوي "د کړکې او شرم له غیر انساني او له شرمه ډکې" ننداري سره مخ کوي(A/٦٧/٢٧٩, paras. ٤٠ and ٥٠).

[24] د مثال په ډول، په ایران کې د بشري حقونو د وضعیت او له محکمې پرته اعدامونو په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي اعلامیه: "په عام محضر کې علني اعدامونې پر دواړو قربانیانو او د اعدام پر نندارچیانو غیر انساني اغیز لري، او د مرګ د سزا لا وار د مخه ظالمانه، غیر انساني او له سپکاوي ډک ماهیت لا پسې پیاوړی کوي،" چې پر لاندې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ ده وګورئ:
https://www.ohchr.org/en/NewsEvents/Pages/DisplayNews.aspx?NewsID=١٥٩٣٧&LangID=E (٨ May ٢٠١٥).

[25] په ۱۳ پاراګراف کې A/٧٢/٥٦٢ وګورئ.

[26] د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې، یوناما د ماشومانو ۳۹۰ تلفات (۱۴۶ مړه او ۲۴۴ ټپیان) دولت پلوه ځواکونو او د ماشومانو ۳۸۹ تلفات (۱۱۸ مړه او ۲۷۱ ټپیان) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

[27] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۷۸۹ ملکي تلفات (۲۸۱ مړه او ۵۰۸ ټپیان) منسوب کړي.

[28] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما افغان نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۱۰۹ ملکي تلفات (۸۱ مړه او ۲۸ ټپیان) منسوب کړي.

[29] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما ګډو نامعلومو دولت پلوه وسله واله ډلو ته ۵۴ ملکي تلفات (۲۳ مړه او ۳۱ ټپیان) منسوب کړي.

[30] د ۲۰۲۰ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما ګډو نامعلومو دولت پلوه ځواکونو ته ۳۰ ملکي تلفات (۷ مړه او ۲۳ ټپیان) منسوب کړي.

[31] د دې یادونه باید وشي چې یوناما د می د ۱۹ نېټې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو پېښه نړیوالو نظامي ځواکونو ته منسوب کړې. دوه ملکیان په فاریاب ولایت هغه مهال ټپي شول کله چې هغوی دغه چاودیدونکي پاتې شوني توکي د اوسپنې د یوې پرچې په څیر سمبالوله. د سرچینو له معلوماتو سره سم، له پېښې دوه اونۍ پخوا، نړیوالو نظامي ځواکونو یوې نږدې سیمې ته نیول شوې وسلې د هغو په ګډون چې له طالبانو نیول شوې وې، د چاودنې لپاره راوړې وې.

[32] د ۲۰۱۹ کال د جنوري له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۷۲۴ ملکي تلفات (۲۸۶ مړه او ۴۳۸ ټپیان) منسوب کړي.

[33] یوناما له ځمکنیو نښتو څخه د دولت پلوه ځواکونو د ملکي تلفاتو نږدې درې برخې افغان ملي اردو ته منسوب کړي، چې ټولټال ۴۱۱ ملکي تلفات (۱۱۲ مړه او ۲۸۷ ټپیان) کیږي.

[34] یوناما ۴۳۶ ملکي تلفات (۱۱۲ مړه او ۳۲۴ ټپیان) د دولت پلوه ځواکونو د غیر مستقیمو وسلو کارونې ته منسوب کړي.

[35] دغه راز د هلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ پېښه وګورئ، کومه چې لاندې په ژیړ رنګ نښاني شوې.

[36] دا انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://en.emergency.it/press-releases/afghanistan-rockets-hit-sangin-market-at-least-٢٣-dead/

[37] راتلونکې انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://president.gov.af/da/?p=٢٥٣٩٧ (په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۶ کتل شوې).

[38] راتلونکې ټویټر پاڼه وګورئ: https://twitter.com/andsfbest/status/١٢٧٧٩٩٥٠٧٤٣٠٤٠٣٢٧٦٩ (په وروستي ځل د ۲۰۲۰ کال د جولای پر ۱۶ کتل شوې).

[39] د آی سي آر سي له خوا د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څیړنه، ۱۵ قاعده؛ د ۱۹۴۹ کال د جون د جینوا کنوانسیونونو الحاقي پروتوکول، او د غیر نړیوالې وسله والې جګړې د قربانیانو د ساتنې په تړاو ( ۲ الحاقي پروتوکول)، ۸ جون ۱۹۷۷، ۱۳ ماده.

[40] د آی سي آر سي له خوا د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څیړنه، ۱۷ قاعده

[41] د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ نیمه یې کې، یوناما د افغان هوايي ځواک د هوايي بریدونو له امله ۱۸۹ ملکي تلفات (۸۶ مړه او ۱۰۳ ټپیان) مستند کړي، چې دغه ملکي تلفات د ۲۰۱۹ کال په لومړۍ نیمه یې کې ۶۲ (۳۱ مړه او ۳۱ ټپیان) وو.

[42] د آی سي آر سي له خوا د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څیړنه، ۹۷ قاعده.

[43] د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د یوناما د لومړي ربع د ۲۰۲۰ (د ۲۰۲۰ د اپریل) راپور او د کوویډ-۱۹ وبا پر مهال (د ۲۰۲۰ کال جون) د روغتیايي پاملرنې پر وړاندې د بریدونو په اړه د یوناما ځانګړی راپور وګورئ، چې په لاندې انټرنیټي پته موجود دي:
https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports last accessed on ١٦ July ٢٠٢٠).

[44] همدا ماخذ

[45] د شخړې د ښکیلو ډلو له خوا د ماشومانو استخدام او کارول په وسله واله جګړه کې د ماشومانو پر وړاندې د شپږو جدي سرغړونو څخه یوه هغه تشکیلوي، کوم چې د ماشومانو او وسله والې شخړې په اړه د عمومي منشي د کلنۍ راپورونو په ضمیمه کې د فهرست کولو لپاره یو لامل دی.

[46] په عمومي توګه د ICCPR, ICESCR ۱۱ ماده وګورئ.

[47] د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر وګورئ، په اشغال شوي فلسطین کې د اسرایلي نظامي بریدونو او هجوم په پایله کې د بشري حقونو سرغړونه، په ځانګړي ډول د غزې په اشغال شوې ترانګه کې وروستي بریدونه - د بشري حقونو د شورا A/HRC/٨/١٧ ,٧/١ د پریکړه لیک د پلې کیدو په اړه د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر راپور، د ۲۰۰۸ کال د جون ۶، نهم پاراګراف، د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر، په وسله واله شخړه کې د بشري حقونو نړیوال قانوني محافظت ، ۲۰۱۱ ، ۲۴ مخ وګورئ.

[48] په مالي کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر راپور وګورئ، A/HRC/۲۲/۳۳ ، د ۲۰۱۲ د جنوري ۷، ۱۸- ۴۶ پاراګرافونه. د ملګرو ملتونو عمومي منشي، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د هیئت راپور، د ۲۰۱۱ کال د مارچ۳۱، ۱۸۸ پاراګراف. د لیبیا په عرب جمهوریت کې د بشري حقونو د نړیوال قانون د ټولو ادعا شویو سرغړونو د تحقیق په موخه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور هم وګورئ، A/ HRC/۱۷/٤٤، د ۲۰۱۱ کال د جون ۱؛ د سورېې په عربي جمهوریت کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور، ۱۹/٦۹ / A / HRC ۱۰۶ پاراګراف؛ د سویلي سوډان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت (UNMISS) ، په سویلي سوډان کې شخړه: د بشري حقونو راپور، د می ۸ ، ۲۰۱۴ ، ۱۸ پاراګراف.

[49] د مثال په توګه، د بشر پالنې د نړیوال قانون د صریح سرغړونو او د بشري حقونو د نړیوال قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د بیارغونې او جبران په اړه د ملګرو ملتونو بنسټیز اصول او لارښودونه وګورئ، د ملګرو ملتونو سند، A/RES/٦۰/١٤٧ ، د ۲۰۰۶ کال د مارچ ۲۱، ۱۵ اصل(چیرې چې "یو فرد ، یو حقوقي شخص، یا کوم بل نهاد د قرباني شخص لپاره د خسارې د جبران لپاره مسؤل ګڼل شوی، دا ډول طرف باید قرباني ته د خسارې جبران ورکړي یا دولت ته تاوان ورکړي که چیرې دولت وار له مخه قرباني ته خساره ورکړې وي. (تاکید اضافه شوی)) د ډارفور په اړه د تحقیقاتو نړیوال کمیسیون، " د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د ډارفور په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور، د ۲۰۰۴ کال د سپتمبر د ۱۸ نیټې د امنیت شورا د ۱۵۶۴ پریکړه لیک په تعقیب، جنیوا، د ۲۰۰۵ کال د جنوري ۲۵،" ۵۹۰-۶۰۰ پاراګرافونه په لاندې پته د لاسرسي وړ دي.
http://www.un.org/news/dh/sudan/com_inq_darfur.pdf
(کمیسیون ومنله چې په ډارفور کې د ترسره شویو جرمونو لپاره د خسارې د جبران د ورکولو مکلفیت د سوډان حکومت ته منسوب دی او د ټولو جرمونو لپاره "ورته مکلفیت چې ممکن دوي ترسره کړي وي یاغیانو ته راجع کیږي.").

[50] د مثال په توګه، د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال تړون، دوهمه ماده، د اجباري تریتم کیدو څخه د ټولو کسانو د ساتنې لپاره نړیوال کنوانسیون، ۲۴ ماده وګورئ. همداراز E / CN.٤ / ۲۰۰۵/۱۰۲ / Add.۱ ، ۴-۲ اصول هم وګورئ.

[51] د بیلګې په توګه، د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال تړون، دوهمه ماده، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیرانساني، سپک چلند پر وړاندې کنوانسیون، ۴، ۵، ۷ او ۱۲ مادې، د اجباري تریتم کیدو څخه د ټولو افرادو د ساتنې لپاره نړیوال کنوانسیون، ۳، ۶، ۷ او ۱۱ مادې. همداراز وګورئ، E / CN.٤ / ۲۰۰۵/۱۰۲ / Add.۱ ، ۱۹ اصل.

[52] د بیلګې په توګه وګورئ، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۸ ماده، د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال میثاق، دوهمه ماده، د نژادې تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو په اړه نړیوال کنوانسیون، ۶ ماده، د شکنجې او نورو ظالمانه،غیر انساني، له سپکاوي څخه ډک چلند یا جزا پر وړاندې کنوانسیون ۶ ماده، ، article ماده ، د اجباري ورکیدو څخه د ټولو وګړو د ساتنې لپاره نړیوال کنوانسیون، ۲۴ ماده، د ماشوم د حقونو په اړه کنوانسیون، ۳۹ ماده، A / RES / ٦۰/١٤٧ هم وګورئ.

[53] د مثال په توګه وګورئ، د مدني او سیاسي حقونو په اړه نړیوال میثاق، دوهمه ماده، د شکنجې او نورو ظالمانه، غیر انساني، له سپکاوي څخه د ډک یا جزا پر وړاندې کنوانسیون، دویمه ماده، د اجباري ورکیدنې څخه د ټولو افرادو د ساتنې لپاره نړیوال کنوانسیون، ۲۳ ماده. د لاګرانډ قضیه هم وګورئ. (جرمني د متحده ایالاتونو په مقابل کې) ، د ۲۰۰۱ کال د جون د ۲۷ نیټې پریکړه د ۲۰۰۱ قضاوت، I.C.J راپورونه، ۲۰۰۱ کال. دا ګهم وګورئ، E/CN.٤/۲۰۰۵/۱۰۲/Add.۱ ، ۳۵ اصل.